
سلسلة مفاتيح الخير



إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنّٰتٍ وَنَهَرٍ فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِنْدَ مَلِيكٍ مُّقْتَدِرٍ



جنت کیسے ملے گی



تالیف

فضیلۃ الشیخ

ابی صہیب محمد بن عبد الرحمن

حفظہ اللہ

الناشر

مکتبہ محمدیہ

بیرون گنج گیٹ، پھندو روڈ، پشاور

0301-8828402

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٍ وَنَهَرٍ فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِندَ مَلِيكٍ مُّقْتَدِرٍ

سلسلة
مفاتيح الخير



جنت
کښې به څه وي

تالیف

فضيلة الشيخ ابي صهيب محمد بن عبدالرحيم حفظه الله

تصحيح و نظر ثاني

فضيلة الشيخ ابى عامر حبيب الرحمن حفظه الله

فضيلة الشيخ ابی وقاص روح الله المدني حفظه الله

دامين كتب خاني
سلسله وار دعوتي خپروني

الناشر
قاری دینی کتب خانه
لنډے سړک چارسده روډ پشاور
0332-5916117

د كتاب نوم: په جنت كى يو چكر

د مؤلف نوم: فضيلة الشيخ أبو صهيب محمد بن عبد الرحمن حفظه الله

تصحيح او نظر ثاني: فضيلة الشيخ أبي عامر حبيب الرحمن حفظه الله
او فضيلة الشيخ أبي وقاص روح الله المدني حفظه الله

كمپوز او ترتيب: أستاذ أبو جُريج محب الله ماموند حفظه الله
03109828236 - 03015249629

سنة الطباعة: 2021م، 1442هـ الطبعة: الأولى

قاري ديني كتب خانه
لنډے سړک چارسده روډ پشاور
0332-5916117

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادی له، وأشهد أن لا اله الا الله وحده لا شريک له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

(يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا الله حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ) ال عمران۱۰۲.

(يَاأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً وَاتَّقُوا الله الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ إِنَّ الله كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا) النساء۱.

(يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا الله وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا ، يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ الله وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا) الأحزاب۷۰-۷۱.

ډير قدرمنو ورونو! زمونږه د زندګی اکثره برخه ددی لپاره خرچه کیږي چې څرنګه د دنیا کور اباد کړو، څرنګه د دنیا زندګی کي ښکلا راولو، څرنګه د دنیا بلډنګونه أباد کړو ، ددی د أبادولو لپاره د ژوند اکثره برخه خرچه کیږي، حال دا دی چې مونږه دغی مقصد ته ونه رسیږو، او که چیرته دغه مقصد حاصل کړو او د دنیا زندګی ډولی کړو او په هغی کی ښکلا پیدا شي بیا هم د دنیا زندګی ډیره زیاته نیمګړي ده او د دنیا زندګی فاني ده.

یو بل کور دی چی هغه د کمال کور دی. د شرف کور دی، د عزت کور دی، د الله د ضیافت او میلمستیا کور دی، د همیشوالی کور دی، د الله درحمتونو کور، د نعمتونو کور ، د برکتونو کور ، د خوشحالئ کور د سکون او اطمئنان کور دی.

هغه د أنبیاؤ ځائی، د صدیقینو ځائي ، د شهداو ځائي، د صالحینو ځائي ، بهترینو ملګرو ځائی دی ، هلته ځوانی ده بوډا والی نه شته ، صحت دی بیماری نه شته ، سکون او ارام دی پریشانی نه شته ، راحت دی مشکل او کړاونه نه شته دی، هلته د الله ملاقات کیږي، د أنبیاؤ صدیقینو شهداو ، صالحینو سره ملاقات کیږي، د ملائکو سره ملاقات کیږي ، په هغی کی الله رب العالمین هغه نعمتونه تیار کړی دي چي هغه سترګو لیدلی نه دي غوږونو اوریدلی نه دي، د چا په زړه کي د هغی سوچ فکر تیر شوی نه دي، هغه جنت دی چی الله رب العالمین، دغه کور کی أعلی خوراکونه تیآر کړی دي، اعلی سکاکونه ئي تیار کړی دي، أعلی لباسونه ئي تیار کړی دي، أعلی بلډنګونه ئی تیار کړئ دي، په هغی کی الله رب الغالمین حوری او غلمان تیار کړی دي، د هغه أبادی د سرو زرو او سپینو زرو خښتو نه جوړه شویده، د هغی مصالحه د مشکو نه ده، او د هغی لوښی او زیورات هم د سرو زرو او سپینو زرو نه جوړ شوی دي ، د داسی یو بهترین کور نه مونږه غفلت کوو، او دا ځکه چی مونږه ددغی کور د صفاتو نه نا خبره یو او یا تری غافل یو، پدی بنیاد الله رب العالمین مونږه او تاسو

ته ددغې کور تذکره کوي چې مونږه هغې ته متوجه شو او د هغې لپاره تیارې وکړو او همدغه رنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږه ته وخت په وخت خبر راکوي چې ددغې کور نه غافله نه شو او ددغې لپاره تیارې وکړو، پدې بنیاد قلم راخلم او د جنت بعضې صفات چې په قرآن او سنت کې ذکر دي د هغې لیکلو إراده لرم تر څو چې ما ته او محترمو لوستونکو ته دغه کور یاد شي او بیا ددې لپاره تیارې وکړو، الله جل جلاله نه دعا کوم چې زما دا عمل په اخلاص بناء کړی او د هغه په وړاندې مقبول وګرځي او الله پرې ما ته او محترمو لوستونکو ته فائده ورکړي.

أمین

التاریخ: ۱٤٤۲/٦/۹ هق.

د جنت نومونه

الله رب العالمین او د هغه رسول جنت په یو څو نومونو باندی او یو څو صفتونو باندی باد کړی دی، چی د هغی نه هم مونږه ته د جنت مقام او منزلت معلومیږي ،چی جنت کې دا صفتونه موجود دي، او دا کمالات ورپکی شته دی، باید دغه نومونه او صفتونه وپیژنو.

۱ـالجنة:

د دغی کور اولنی نوم جنت دی، چی دا نوم قرآن او سنت کې په کثرت سره ذکر شویدی.

په صیغی د مفرد سره دا نوم پنځه پنځوس کرتي تقریبا ذکر شویدی ، او تقریبا څه د پاسه شپیته کرتی په صیغی د جمعی ـ جنات ـ ذکر شویدی، چی ابتدائي د قرآن کریم ددی آیت نه شویده.

(وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ) سورة البقرة : ۲۵.

جنت کی دا جیم او نون ماده په عربی لغت کي د پټوالی لپاره استعمالیږي لکه ډال چی سړی ورباندی ځان پټوي هغی ته ـ جُنَّةٌ ـ ویل کیږي. ماشوم چی د مور په خیټه کې پټ وي هغه ته جنین ویل. کیږي، پیریان چی زمونږه د نظر نه پټ دي هغی ته جن ویل کیږي، لیونی چی په عقل باندی ئي پرده راغلی وي او عقل ئي پټ وي هغی ته مجنون ویل کیږي، باغ چی لاندی زمکه ئي په ونو او بوټو باندی پټه وي هغی ته جنة ویل کیږي جنت ته هم ځکه جنت ویل کیږي چی

هغې کې کښې ولې او بوټي وي چې لاندې زمکه پدغه بوټو باندې پټه وي او يا زمونږه د سترګو نه پټ وي.

٢۔دارالسلام:

د جنت دويم نوم دار السلام دى لکه چې قرآن کريم کې الله رب العالمين ذکر کړى دى، الله رب العالمين فرمائي: (لَهُمْ دَارُ السَّلَامِ عِنْدَ رَبِّهِمْ) الأنعام/١٢٧.

د دوی لپاره د رب په وړاندې باندې دار السلام دى.

(وَاللهُ يَدْعُو إِلَى دَارِ السَّلَامِ) يونس/٢٥.

الله رب العالمين بندګان دار السلام طرف ته دعوت کوي.

١: او ديته دار السلام ويل کيږي ځکه سلام سلامتيا ته ويل کيږي او پدغه کور کې د هر شر او آفت نه سلامتيا ده، پديکې بيمارى نشته، مرګ نشته دى، خپګان او پريشانى نشته دى، او بيا ددې نه وتل نشته دى.

٢: او همدغه رنګه سلام د الله جل جلاله نوم دى: (السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ) سورة الحشر/٢٣.

او دا هم د الله د ضيافت ميلمستيا او د هغه د اکرام أو شرف کور دى.

٣: سلام ـ کلمې د (السلام عليکم) ته ويل کيږي او پدې کور کې به سلامونه زيات وي.

١: الله جل جلاله فرمائي: (وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَامٌ) يونس/١٠.

د دوي پيش کشى به پدغه کور کې سلام وى.

۲: ملائکې سلام وائي: الله جل جلاله فرمائي: (وَالْمَلَائِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِمْ مِنْ كُلِّ بَابٍ، سَلَامٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ) الرعد/۲۳-۲۴.

او ملائکې به پدې جنتيانو باندې د هرې دروازې نه داخليږي او دا به وائي په تاسو باندې دې سلام وي پدې وجه باندې چې تاسو صبر کړې دې پس ډير ښه عاقبت دې ددغې کور.

۳: الله جل جلاله په دوي باندې سلام وائي: (سَلَامٌ قَوْلًا مِنْ رَبٍّ رَحِيمٍ). يس/۵۷.

سلام به وي پدوی باندې دا وينا د رب د طرف نه ده.

٤: خپل منځ کې په يو بل سلام: (لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا إِلَّا سَلَامًا) مريم/٦٢.

دوی به پديکې بې خوده خبرې نه اورې مګر سلام به اوري.

۲-دار الخلد:

يعنې د هميشوالی کور او دا نوم ورته ځکه وائي چې ددې کور ټولو نعمتونه رزقونه ميوي او خوراکونه هميشه دي نه ختميږي.

۱: الله جل جلاله فرمائي: (عَطَاءً غَيْرَ مَجْذُوذٍ) هود/۱۰۸.

ورکړه ده نه ده قطع کيدونکې او ختميدونکې.

۲: (إِنَّ هَذَا لَرِزْقُنَا مَا لَهُ مِنْ نَفَادٍ) ص/۵۴.

بيشکه دغه زمونږه رزق دی د هغې لپاره ختميدل نه شته دی.

۳: (أُكُلُهَا دَائِمٌ وَظِلُّهَا) الرعد/۳۵.

خوراکونه د هغې هميشه دي او سورې ئې هم ډير اوګده دي.

٤: (وَمَا هُمْ مِنْهَا بِمُخْرَجِينَ) الحجر/۴۸.

او دوی به د جنت نه نه شي ویستل.

٥: (وَهُمْ فِيهَا خَالِدُونَ) او دا جنتیان به په جنت کې همیشه وي.

مذکوره آیتونو کې دا خبره ذکر شوه چې د جنت میوې همیشه دي د هغې لپاره ختمیدل نشته دی، او جنتیان به په جنت کې همیشه وي او د هغې نه به نه ویستل کیږي او همدا مطلب دی چې جنت د همیشوالی کور دی.

٤ـ دارالمقامة:

ددی مطلب همدا دی چې جنتیان به په جنت کې همیشه وي، لکه چې فراء او زجاج همدغه معنی کوي چې المقامة د إقامت په معنی باندی دی، مقامة او إقامت یوه معنی ده او همدغه وجه ده چې مقاتل ئې معنی کوي دار الخلود.

یعنی جنتیان به هلته همیشه لپاره اوسیږي د هغې نه چیرته کوچ او انتقال نه کوي چې یا وفات شي او یا تری بل طرف ته کوچ وکړي.

او همدا نوم قرآن ذکر کړیدی: (الَّذِي أَحَلَّنَا دَارَ الْمُقَامَةِ مِنْ فَضْلِهِ لَا يَمَسُّنَا فِيهَا نَصَبٌ) فاطر/ ۳۵.

هغه ذات چې مونږه ئې د همیشوالی کور ته په خپل فضل سره نازل کړو، چې مونږه ته په هغې کې ستړیا نه رسیږي.

٥ـ جنة المأوى:

مأوى د مفعل وزن دى د آوى يأوي نه ـ (إذا انضم إلى المكان واستقر به)، کله چې يو سړی يو کور پورې پیوسته شي او هلته قراری ونیسي.
الله رب العالمين فرمائي: (عِندَهَا جَنَّةُ الْمَأْوَى)
سورة النجم / ١٥.

ددغه سدرة المنتهى په وړاندې جنت المأوى دی.

عطاء رحمه الله د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه نقل کوي چې دیته جبريل او ملائکي راځي ځکه ورته جنت المأوى وائي.

مقاتل او کلبي رحمه الله د شهیدانو روحونه دلته قراری نیسی ځکه ورته جنت المأوى ويل کيږي.

٦ـ جنت عدن:

إمام ابن القيم رحمه الله فرمائي: د جنت عدن په باره کې بعضی علماء فرمائي چې دا په جنت کې د یو جنت د یو قسم نوم دی لکن صحیح خبره دا ده چې ټول جنتونو صفات عدن دي او دا د ټولو جنتونو صفت دی.
حادى الأرواح/١٣٥.

١: الله رب العزة فرمائي: (جَنَّاتِ عَدْنٍ الَّتِي وَعَدَ الرَّحْمَٰنُ عِبَادَهُ بِالْغَيْبِ)
سورة مريم/٦١.

٢: (جَنَّاتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ)
سورة فاطر/٣٣.

۳: (وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ) الصف/۱۲.

او دا ځکه ورته جنات عدن وائي چې جنتيان پدغې کې اوړي او زمې اوسيږي، داسې نه دي چې په اوړي کې يو طرف ته کوچ کوي او په زمې کې بل طرف ته.

۷۔ دارالحيوان:

ددې تذکره الله رب العالمين په قرآن کريم کې کړيده.

(وَإِنَّ الدَّارَ الْآخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ) العنکبوت/ ۶۴.

او يقيناً کور وروستنی همدغه حقيقي زندگي ده.

د تفسير علماء ذکر کوي چې دغه حقيقي او کامله زندگي ده چې د دې نه روسته مرګ نه راځي.

۱: زجاج معنی کوي. دار الحياة الدائمة ـ يعنې د هميشه ژوند کور.

۲: کلبي معنی کوي. حياة لا موت فيها ـ يعنې داسې ژوند چې مرګ وريکې نشته دی.

۳:او عبيدة او ابن قتيبة ئې معنی کوي ـ الحيوان بمعنی الحياة

۸ـ الفردوس:

دا نوم الله رب العالمين ذکر کوي او فرمائي:

۱: (أُولَٰئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ، الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ)

سورة المؤمنون/۱۰-۱۱.

دا هغه کسان دي چې جنت الفردوس په ميراث سره وړي.

۲: (إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا)
سورة الكهف/ ۱۰۷.

بيشکه هغه کسان چې ايمان ئې راوړی او نيک عملونه کوي بيشکه جنات الفردوس د دوی لپاره ميلمستيا ده.

د فردوس معنی د بستان او باغ فراديس بستانونو او باغونه ته ويل کيږي او کعب رحمه الله فرمائي: فردوس هغه بستان او باغ ته وائي چې په هغې کې انګور وي.

مجاهد رحمه الله فرمائي: فردوس په رومی ژبه کې باغ ته ويل کيږي.

۹ـ جنات النعيم:

او همدا نوم قرآن کريم ذکر کوي فرمائي: (إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ جَنَّاتُ النَّعِيمِ) سورة لقمان/۸.

او جنات النعيم ورته ځکه وائي چې د نعمتونو ټول قسمونه پديکي موجود دي.

۱۰ـ المقام الأمين:

يعنی د أمن والا ځائي.

قرآن کريم کې الله رب العالمين فرمائي: (إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ)
سورة الدخان/ ۵۱.

بيشکه متقيان د أمن والا ځائی کې دي.

۱۱ـ مقعد صدق:

الله رب العالمين فرمائي: (إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَهَرٍ (٥٤) فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِنْدَ مَلِيكٍ مُقْتَدِرٍ) سورة القمر/ ۵۴.

د جنت خوشبوي

انسان چې جنت ته رسیدلی نه وي اول ورباندې د جنت خوشبوي راځي په پدې بنیاد باندې د جنت د خوشبوئی بیان مخکې کړې شو.

جنت هغه خوشبویه کور دی چې د هغې خوشبوئي د ډیر لرې نه موندلی کیږي چې د هغې په باره کې روایات راغلي دي چې په مختصر أنداز سره به ئې دلته ذکر کړو او بیا به د الله په فضل او توفیق د روایاتو ترمنځ تطبیق وکړو.

۱: د څلویښت کاله مزل په مقدار:

۱: عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ قَتَلَ قَتِيلاً مِنْ أَهْلِ الذِّمَّةِ لَمْ يَرَحْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ ، وَإِنَّ رِيحَهَا لَيُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ أَرْبَعِينَ عَامًا. أخرجه البخاري/ ٣١٦٦:

د عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه روایت دی هغه فرمائي: چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي: چا چې ذمي ووژلو هغه به د جنت خوشبوي ونه مومي او بیشکه د جنت خوشبوئي د څلویښت کاله مزل په مقدار باندې موندل کیږي یعنې چې څلویښت کاله مزل جنت ته پاتي وي د هغه ځائې نه د جنت خوشبوئي موندل کیږي.

۲: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: أَلاَ مَنْ قَتَلَ نَفْسًا مُعَاهِدًا لَهُ ذِمَّةُ اللّٰهِ وَذِمَّةُ رَسُولِهِ، فَقَدْ أَخْفَرَ بِذِمَّةِ اللّٰهِ، فَلاَ يرحْ رَائِحَةَ الجَنَّةِ، وَإِنَّ رِيحَهَا لَيُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ سَبْعِينَ خَرِيفًا.

أخرجه الترمذي/ ١٤٠٣ ، ضعفه الألباني في ضعيف الجامع/ ٢١٧٨.

أبو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي چا چې داسې معاهد ووژلو چې د هغې لپاره د الله او د هغه د رسول صلى الله عليه وسلم زيموارى وه يقيناً ده د الله زيموارى کې غدر او نقصان وکړو دغه انسان به د جنت خوشبوئي ونه مومي او بيشکه د جنت خوشبوئي د اويا کاله لرى نه موندل کيږي.

۳: عَنْ رَجُلٍ، مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ قَتَلَ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الذِّمَّةِ لَمْ يَجِدْ رِيحَ الْجَنَّةِ، وَإِنَّ رِيحَهَا لَيُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ سَبْعِينَ عَامًا».

صححه الألباني فى صحيح الجامع/ ٦٤٤٨.

ترجمه: د يو صحابي نه روايت دى هغه فرمائي: چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلى دى: چا چې يو ذمي ووژلو هغه به د جنت خوشبوئي ونه مومي، او حال دا دى چې د هغه خوشبوئي د اويا(۷۰) کاله لرى مزل په مقدار موندلى کيږى.

۳: د سل کاله مزل په مقدار با ندى:

عن أبي بكرة رضي الله قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: «ريح الجنة يوجد من مسيرة مائة عام».

رواه الطبراني، والحاكم فى المستدرك /۱۲٦/۲، وقال الهيثمي فى مجمع الزوائد /۲۹۳/۱، رواه الطبراني وفيه محمد بن عبدالرحمن العلاف ولم أعرفه وبقية رجاله ثقات، وأخرجه ابن حبان /٤٨٨١، وصححه الألباني فى صحيح الترغيب/٣٦٩٢.

أبو بكرة رضي الله عنه فرمائي: چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلى دي چې فرمائل ئي: د جنت خوشبوي د سل كاله لرى مزل نه موندل كيږي.

٤: د پنځه سوه كاله مزل په مقدار:

عن أبي هريرة رضي الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم: «رائحة الجنة تراح من مسيرة خمس مائة عام».

أخرجه أبو نعيم في صفة الجنة /١٩٤، والحلية /٣٠٧/٣.

أبو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلى دي د جنت خوشبوي د زر كاله مزل په مقدار باندى موندل كيږي.

٥: د زر كاله مزل په مقدار باندى:

عن جابر رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «ريح الجنة يوجد من مسيرة ألف عام والله لا يجدها عاق ولا قاطع رحم».

أخرجه الطبراني فى الأوسط وأبو نعيم فى صفة الجنة /١٩٥، والديلمي فى الفردوس/ ٣٢٦٠، مجمع الزوائد/ ١٤٩/٨-١٤٩.

جابر رضي الله عنه فرمائي :چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي: د جنت خوشبوي د زر كاله مزل په مقدار لري مسافى نه موندل كيږي او دغه خوشبوي به هغه څوك ونه مومي څوك چې ازاري وي او نه هغه انسان چې هغه رشته داري پريكونكى وي.

د امام ابن القيم رحمه الله ددی رواياتو تر منځ تطبيق:

إمام ابن القيم رحمه الله په القصيدة النونية کې ددی رواياتو تر منځ تطبيق کوي فرمائي:

٥٠٣٧ ـ والرِّيحُ تُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ أَرْبَعِيـ ـنَ وإنْ تَشَــاْ مــائةً فَـمَـرْوِيَّــانِ

خوشبوی د جنت موندل کيږی د مزل د څلويښت کالونه ، که ته غواړي نو سل کاله ځکه دواړه نقل شويدی .

٥٠٣٨ ـ وَكَذَا رُوِيْ سَبْعِينَ أَيْضاً صَحَّ هَـ ـذا كُـلُّهُ وَأَتَـى بِـهِ أَثَـرَانِ

او همدغه رنګه روايت کړی شويدی " او يا " هم ، دا ټول صحيح دی او پدی دوه احاديث راغلي دی .

٥٠٣٩ ـ مَا فِي رِجَالِهِمَا لَنَا مِنْ مَطْعَنٍ وَالجَمْعُ بَيْنَ الكُلِّ ذُو إمْكَانِ

نشته په رجالو د دواړو کښې زمونږ د پاره څه طعن او جمع د ټولو رواياتو مابين کښې ممکن ده .

٥٠٤٠ ـ وَلَقَدْ أَتَى تَقْدِيرُهُ مِائَةً بِخَمْـ ـسٍ ضَرْبُهَا مِنْ غَيْرِ مَا نُقْصَانِ

او يقيناً راغليده د دی اندازه سل کاله چه ضرب کړی په پنځه و کښې بغير د نقصان نه يعنی پنځه سوه (٥٠٠) کاله.

٥٠٤١ ـ إنْ صَحَّ هَذَا فَهْوَ أَيْضاً وَالَّذِي مِنْ قَبْلِهِ فِي غَايَةِ الإمْكَانِ

که دا روايت ثابت شي نو دا او هغه چه مخکې د دينه دی په انتهائی امکان کښې دی .

۵۰۴۲- إِمَّا بِحَسْبِ الْمُدْرِكِينَ لِرِيحِهَا قُرْباً وَبُعْداً مَا هُمَا سِيَّانِ

يا دغه اندازه په اعتبار د موندونکو ده خوشبوئ د جنت لره په نيزدې والي او لرې والي کښې دواړه برابر ندی.

۵۰۴۳- أَوْ بِاخْتِلَافِ قَرَارِهَا وَعُلُوِّهَا أَيْضاً وَذَلِكَ وَاضِحُ التِّبْيَانِ

او يا په اختلاف د لانديوالی ددې او اوچتوالی ددی هم دی او دا خبره ښکاره واضحه ده- يعنې بعضې جنتونه اوچت دي او بعضې لاندی.

۵۰۴۴- أَوْ بِاخْتِلَافِ السَّيْرِ أَيْضاً فَهْوَ أَنْـ ـوَاعٌ بِقَدْرِ إِطَاقَةِ الْإِنْسَانِ

او يا په اختلاف د مزل سره ده نو دا هم ډير قسمونه دی په اندازه د طاقت د انسان.

۵۰۴۵- مَا بَيْنَ أَلْفَاظِ الرَّسُولِ تَنَاقُضٌ بَلْ ذَاكَ فِي الْأَفْهَامِ وَالْأَذْهَانِ

نشته په مابين د الفاظو د رسول اللهﷺ کښې هيڅ تناقض بلکه دا تناقض په فهمونو او ذهنونو کښې دی.

۱: او خوشبوي د جنت د څلويښت کاله لرې مسافې نه موندل کيږي او که سل کاله مسافه وائي دا هم روايت کړی شويدی.

همدغه رنګه اويا کاله هم صحيح ثابت دي او پديکي دوه حديثونه وارد دي، چې د هغې د سند په رجالو کې کوم ضعف نشته او ټولو تر منځ جمع ممکن ده.

همدغه رنګه پنځه سوه کاله هم وارد دي په غير د نقصان نه که دغه روايت هم صحيح شي نو دا خبره ممکن ده.

ځکه دا تفاوت پدی وجه باندی راغلی ځکه قوت شامه د بوي موندونکی کې، تفاوت دی اعلی قوت شامه أدنی او متوسطٌ.
أعلی ئې د پنځه سوه کاله لری نه مومی، أدنی د ځلویښت کاله لری نه او متوسط د اویا او سلو کالو نه او یا په مزل کې تفاوت دی أعلی تیز رفتار أدنی رفتار متوسط او یا جنتونه دری قسمه دي: أعلی، أدنی، متوسط.

٦: د جنت خوشبوئي په د نیا کې موندل:

د جنت خوشبوي خو به په قیامت کې موندل کیږي لکن بعضو انسانانو ته کرامة الله رب العالمین په دنیا کې هم ورښائي.
عَنْ أَنَس قال: لَمْ يَشْهَدْ عمي مَعَ رسول الله صَلى الله عَليه وسَلم بَدْراً قَالَ: فَشَقَّ عَلَيْهِ، وَقَالَ فَأَوَّلُ مَشْهَدٍ شَهِدَهُ رَسُولُ اللهِ صَلى الله عَليه وسَلم وغِبْتُ عَنْهُ لَئِنْ أَرَانِي اللهُ مَشْهَدًا فِيمَا بَعْدُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلى الله عَليه وسَلم لَيَرَيَنَّ اللهُ مَا أَصْنَعُ قَالَ فَهَابَ أَنْ يَقُولَ غَيْرَهَا قَالَ فَشَهِدَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلى الله عَليه وسَلم يَوْمَ أُحُدٍ قَالَ فَاسْتَقْبَلَ سَعْدَ بْنَ مُعَاذٍ فَقَالَ لَهُ أَيْنَ وَاهًا لِرِيحِ الْجَنَّةِ أَجِدُهُ دُونَ أُحُدٍ قَالَ فَقَاتَلَهُمْ حَتَّى قُتِلَ قال: فَوُجِدَ فِي جَسَدِهِ بِضْعٌ وَثَمَانُونَ مِنْ ضَرْبَةٍ وَطَعْنَةٍ وَرَمْيَةٍ فَقَالَتْ أُخْتُهُ فَمَا عَرَفْتُ أَخِي إِلاَّ بِبَنَانِهِ».

أخرجه البخاري/٤٠٤٨، ومسلم/ ١٩٠٣.

أنس رضي الله عنه فرمائي: زما تره د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره بدر غزا ته نه وو حاضر شوي، دا خبره په هغه ډیره ګرانه پریوته او وي ویل: چې اولنۍ غزا وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته

حاضر شوی وو او زه غائب ووم که الله رب العالمین ما ته بله موقع د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د غزا کولو راوښودله الله به ما لره ووینې چې زه څه کوم د بلې خبرې د ویلو نه وویریدلو.

دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د أحد غزا ته حاضر شو دده سره سعد بن معاذ رضي الله عنه پداسې حالت کې مخامخ شو چه هغه میدان جنګ ته روان وو، هغه تری پوښتنه وکړه چیرته روان ئې؟

هغه ورته وویل: تعجب دی زه د جنت خوشبوي د أحد د غر نه أخوا مومم، دا لاړه جنګ ئې وکړه تر دی چې دا هم ووژل شو دده په بدن باندی څه دپاسه اتیا زخمونه وو د تورو ګذارونه په نیزو باندی ګذارونه، او په غشو باندی ګذارونه دده خور وویل: چې ما هغه لره د ګوتو په بندونو باندی وپیژنده.

د جنت لاره

جنت ته فقط یوه لاره ورغلې ده دنیا کې چې څومره لارې دي دغه لارې د جنت نه ککې وړی دي صرف یوه لاره جنت ته تللې ده.

عن ابن مسعود قال: خط لنا رسول الله صلی الله علیه وسلم خطا وقال: هذا سبیل الله وخط خطوطا عن یمبنه وعن یساره ثم قال هذه سبل وعلی کل سبیل منها شیطان یدعو إلیه ثم قرأ (وأن هذا صراطي مستقیما فاتبعوه ولا تتبعوا السبل فتفرق بکم عن سبیله) الأنعام/ ١٥٣.

أخرجه أحمد (٤١٤٢)، والنسائي في ((السنن الکبری)) (١١١٧٤)، والدارمي (٢٠٢) باختلاف یسیر.

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائي: يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږه ته يو خط کش کړه او وي ويل دا د الله لاره ده او د هغې ښي او کڼ طرف ته ئي خطونه کش کړل، او وي ويل: دا داسې لارې دي چې په هر يو باندې شيطان دی.

عن جَابِرِ بْنَ عَبْدِ الله يَقُولُ: " جَاءَتْ مَلاَئِكَةٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ نَائِمٌ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: إِنَّهُ نَائِمٌ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: إِنَّ العَيْنَ نَائِمَةٌ، وَالقَلْبَ يَقْظَانُ، فَقَالُوا: إِنَّ لِصَاحِبِكُمْ هَذَا مَثَلًا، فَاضْرِبُوا لَهُ مَثَلًا، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: إِنَّهُ نَائِمٌ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: إِنَّ العَيْنَ نَائِمَةٌ، وَالقَلْبَ يَقْظَانُ، فَقَالُوا: مَثَلُهُ كَمَثَلِ رَجُلٍ بَنَى دَارًا، وَجَعَلَ فِيهَا مَأْدُبَةً وَبَعَثَ دَاعِيًا، فَمَنْ أَجَابَ الدَّاعِيَ دَخَلَ الدَّارَ وَأَكَلَ مِنَ المَأْدُبَةِ، وَمَنْ لَمْ يُجِبِ الدَّاعِيَ لَمْ يَدْخُلِ الدَّارَ وَلَمْ يَأْكُلْ مِنَ المَأْدُبَةِ، فَقَالُوا: أَوِّلُوهَا لَهُ يَفْقَهْهَا، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: إِنَّهُ نَائِمٌ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: إِنَّ العَيْنَ نَائِمَةٌ، وَالقَلْبَ يَقْظَانُ، فَقَالُوا: فَالدَّارُ الجَنَّةُ، وَالدَّاعِي مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَمَنْ أَطَاعَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ، وَمَنْ عَصَى مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَدْ عَصَى اللَّهَ، وَمُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرْقٌ بَيْنَ النَّاسِ». أخرجه البخاري/ ۷۲۸۱.

ترجمه: جابر بن عبد الله رضی الله عنه وائي: څه ملائکي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلي پداسې حال کې چې د الله رسول ویده وو، بعضو وویل: دا خو ویده دی، بعضو وویل سترګې یې ویدې دي او زړه یې ویښ دی، بیا یې وویل: یقینا ستاسې ددې ملګري یو مثال

شته تاسی يو مثال پيش کړئ، بعضو ووېل دا خو ويده دی، او نورو بعضو ملائکو ووېل چې يقينا سترګې يې ويدې دی او زړه يې ويخ دی نو ملائکو ووېل: ددې مثال پشان د يو سړی دی چې کور يې جوړ کړی وی، او په هغې کې يې روټی تياره کړی وی او يو کس د روټی د دعوت د پاره ولېږی پس چا چې دعوت قبول کړه هغه دی کور ته داخل شو او روټئ يې وخوړه او چا چې دعوت قبول نه کړو هغه دی کور ته داخل نه شو او نه يې خوراک وکړو د روټئ نه، بعضو ملائکو ووېل چې ددې تعبير ورته وکړئ چې پوهه شي، ځينو ملائکو ووېل: دا خو ويده دی، او نورو بعضو ملائکو ووېل چې يقينا سترګې يې ويدې دی او زړه يې ويخ دی، نو ملائکو وفرمايل: کور هغه جنت دی او داعي محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم دی نو چا چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم اطاعت وکړه يقينا هغه د الله تعالى اطاعت وکړو او چا چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم نافرمانی وکړه يقينا هغه د الله تعالى نافرماني وکړه، او نبی عليه السلام د خلکو په ما بين کې فرق کونکی دی.

د جنت دروازې

لکه څرنګه چې يو آبادې ته سړی ورځي اول شي دواړه مخې ته راځي پدی بنیاد باندی باید د جنت د دروازو بیان وکړی شي.
قرآن کریم او أحادیثو کې الله او د هغه رسول د جنت د دروازو تذکره کړیده الله تعالی فرمائي:
(وَسِيقَ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ إِلَى الْجَنَّةِ زُمَرًا حَتَّى إِذَا جَاءُوهَا وَفُتِحَتْ أَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلَامٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ فَادْخُلُوهَا خَالِدِينَ)
الزمر/ ۷۱.
او روان به کړی شي هغه کسان چې د خپل رب د حکمونو پابندی ئی کړې ده جنت طرف ته ډلی ډلی ، تر دی چې هغوي جنت ته ورشي کهلاو به کړی شي هغوي ته دروازې د جنت او وبه وائي څوکیداران د جنت په تاسو دی سلام وي تاسو ډیر ښه کردار کړی دی داخل شئ دی جنت ته چې همیشه به ئي پدیکي.
دی أیت کې دا خبره ثابته شوه چې د جنت د آبادی لپاره دروازې دي.

د جنت د دروازو شمار

عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:" مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُبْلِغُ - أَوْ فَيُسْبِغُ - الْوَضُوءَ ثُمَّ يَقُولُ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ ". **أخرجه مسلم/۲۳۴.**

عمر رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي په تاسو کې هيڅ يو کس نشته دی چې هغه اودس وکړی او کامل اودس وکړی او بيا دا دعا ووائي: أشهد أن لا إله إلا الله..........

مګر دی انسان ته د جنت أته دروازی کهلاويږي دا به د هغی دروازی نه داخليږي چې دا ئي غواړی. دی حديث ک دا خبره ثابته شوه چې د جنت دروازی اته (٨) دی.

د هر يو عمل لپاره خپله دروازه ده

عن أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قال رَسُول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ مِنْ شَيْءٍ مِنَ الأَشْيَاءِ فِي سَبِيلِ الله دُعِيَ مِنْ أَبْوَابِ، - يَعْنِي الجَنَّةَ، - يَا عَبْدَ الله هَذَا خَيْرٌ، فَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّلاَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّلاَةِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الجِهَادِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الجِهَادِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّدَقَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّدَقَةِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصِّيَامِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصِّيَامِ، وَبَابِ الرَّيَّانِ»، فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: مَا عَلَى هَذَا الَّذِي يُدْعَى مِنْ تِلْكَ الأَبْوَابِ مِنْ ضَرُورَةٍ، وَقَالَ: هَلْ يُدْعَى مِنْهَا كُلِّهَا أَحَدٌ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: «نَعَمْ، وَأَرْجُو أَنْ تَكُونَ مِنْهُمْ يَا أَبَا بَكْرٍ» **أخرجه البخاري/٣٦٦٦.**

أبو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي: چا چې دوه جوړه څيزونه د يو څيز نه د الله په لاره کې خرچه کړه دا إنسان به د جنت د دروازو نه راوبلل شي چې أي د الله

بنده دا غوره ده څوک چې د لمونځ والا وي هغه به د لمونځ دروازی نه راوبلل شي ، او څوک چې د جهاد عبادت کونکی وي هغه به د جهاد د دروازی نه راوبلل شي او څوک چې صدق کونکی وي هغه به د صدق د دروازی نه راوبلل شي او څوک چې د روژي زيات اهتمام کونکي وي هغه به د ريان د دروازی نه راوبلل شي.

أبو بکر رضي الله عنه وويل: يا رسول الله زما مور او پلار دی ستا نه قربان شي ددی ټولو دروازو نه د آواز ضرورت خو نه شته آيا داسي څوک به وي چې د جنت د ټولو دروازو نه رابلل کيږي؟ نبي عليه السلام وويل: هو او زما اميد دی چې ته به ددغی کسانو نه شي چې د جنت د ټولو دروازو نه رابلل کيږي.

د روژي لپاره ځانګړی دروازه

عن سهل بن سعد أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال:« إن في الجنة ثمانية أبواب باب منها يسمى الريان لا يدخله الا الصائمون».

أخرجه البخاري/ ۳۲۵۷، ومسلم/ ۱۱۵۲.

د سهل بن سعد رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي: په جنت کې اته دروازي دي يوه دروازه ده د هغې نوم دی ريان د هغی نه نه داخليږي مګر روژه دار.

فائدة: دی حديث کی دا فائدة ذکر شوه چې د روژه دار لپاره په جنت کې ځانګړی دروازه ده او هغه ته (ريّان) ويل کيږی او دهغی نه به يواځی روژه داران داخليږی.

د چا چې درې بچیان وفات شوي وي

عن عتبة بن عبد السلمي قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول:«ما من مسلم يتوفى له ثلاثة من الولد لم يبلغوا الحنث إلا تلقوه من أبواب الجنة الثمانية من أيها شاء دخل».

رواه ابن ماجة /١٦٠٤، حسنه الألباني في صحيح الجامع/٥٧٧٢.

عتبة بن عبد السلمي رضي الله عنه فرمائي: چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوریدلی دي چې فرمائل ئې: هیڅ یو مسلمان نشته دی چې د هغې درې بچیان د بلوغ نه مخکې وفات شوی وي مګر هغوی به دی کس ته د جنت د أته دروازو نه مخې ته راځي او د کومې یوې دروازې نه چې وغواړي د هغې نه به داخليږي.

د جنت د دروازو د دواړو درشلو تر منځ مسافة

د جنت دروازې دواړو درشلو ترمنځ دومره مسافة ده لکه د مکي او هجر ترمنځ یا د مکي او بصرې ترمنځ په یو روایت کې داسي راځي چې د څلویښتو کالو مزل په مقدار پراخي ده.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قال رَسُول اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، إِنَّ مَا بَيْنَ الْمِصْرَاعَيْنِ مِنْ مَصَارِيعِ الْجَنَّةِ لَكَمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَهَجَرٍ، وفي لفظ لكما بَيْنَ مَكَّةَ وهجر أو كما بين مكة وَبُصْرَى ". أخرجه البخاري /٢٢١٧/٣٣٤٠، ومسلم/١٩٤.

أبو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي: زما دې په هغه ذات باندې قسم وي چې د

محمد صلى الله عليه وسلم نفس د هغه په لاس کې دی د جنت د دوه درشلو تر منځ دومره مسافه ده لکه د مکی نه تر هجر پورې يا د مکی نه د بصرى پورى.

۲: عَنْ حَكِيمِ بْنِ مُعَاوِيَةَ ، عَنْ أَبِيهِ ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : أَنْتُمْ تُوفُونَ سَبْعِينَ أُمَّةً أَنْتُمْ آخِرُهَا ، وَأَكْرَمُهَا عَلَى اللهِ وَمَا بَيْنَ مِصْرَاعَيْنِ مِنْ مَصَارِيعِ الْجَنَّةِ مَسِيرَةُ أَرْبَعِينَ عَامًا ، وَلَيَأْتِيَنَّ عَلَيْهِ يَوْمٌ وَإِنَّهُ لَكَظِيظٌ.

أخرجه أحمد /۳/۵ رقم /۲۰۰۲۵ ،صححه الألباني فى الصحيحة /۱٦۹۸، وصحيح الجامع/۵۵۹۰.

حكيم بن معاوية د خپل پلار نه روايت کوي رضي الله عنه هغه فرمائي :چی رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي : تاسو اويا أمتونو لره پوره کونکي ئي يعني تاسو اويا يم أمت ئي په ټولو کې تاسو أخر او په الله جل جلاله باندى غوره ئي د جنت د دوه درشلو تر منځ د څلويښت کال مزل په مقدار پراخي او مسافه ده او په هغه باندی به داسی یوه ورځ راځي چی په هغی باندی به ازدحام او تیل وي.

عن عتبة بن غزوان قال: ولقد ذكر لنا أن مصراعين من مصاريع الجنة بينهما مسيرة أربعين سنة». **أخرجه مسلم: ۲۹٦۷.**

عتبة بن غزوان رضي الله عنه فرمائي: او مونږه ته دا خبره ذکر کړی شويده چی د جنت د دوارو درشلو تر منځ څلويښت کاله مزل په مقدار مسافه ده.

د جنت د دروازو صفت

د جنت د دروازو لپاره حلقې او کړې دي او دغه به نبي عليه السلام رانيسي او هغې لره به حرکت ورکوي او اول به دغه دروازه نبي صلى الله عليه وسلم ته کهلاويږي.

عن أنس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: « فآخذ حلقة باب الجنة فأقعقعها». أخرجه الترمذي/٣١٤٨، وقال: هذا حديث حسن صحيح.

نبي صلى الله عليه وسلم فرمائي: زه به د جنت د دروازې کړې اونيسم هغه لره به حرکت ورکړم او بيا يې وشړنکوم.

د جنت د يوې دروازې نه تر بلې دروازې پورې مسافة

د جنت د يوې دروازې نه تر بلې دروازې پورې اويا کاله مزل په مقدار مسافه ده.

عن لقيط بن صبرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن للجنة ثمانية أبواب ما منهن بابان إلا يسير الراكب بينهما سبعين عاما.

أخرجه الطبراني في الكبير/٢١٣/١٩، وعبد الله بن أحمد في زيادات المسند/١٣/٤، وقال : في مجمع الزوائد/٣٤٠/١٠، وأحد طريقى عبدالله اسناده متصل ورجاله ثقات.

لقيط بن صبرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي: د جنت اته دروازې دي په هغې کې دوه دروازې نشته دې مگر په سورلې باندې سور انسان د هغې تر منځ اويا کاله مزل کوي.

د جنت د دروازو چابی

عن معاذ بن جبل رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم« مفتاح الجنة شهادة أن لا إله إلا الله».

أخرجه أحمد/ ٢٤٢/٥.

معاذ بن جبل رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلی دي: د جنت چابی د لا إله إلا الله ګواهي ده يعنی کوم انسان چې په دنيا کې د لا إله إلا الله ګواهی ورکړي وي هغه ته به د جنت دروازه خلاصيږي او که دغه ګواهي ئي نه وي ورکړي هغه ته د جنت دروازه نه خلاصيږي.

د جنت د چابی غاښونه

لکه څرنګه چې د دنيا چابياني هله تاله او قلف خلاصوي چې دغه چابی غاښونه ولری او غاښونه ئی روغ وي که غاښونه نه لري او يا ئی غاښونه مات وي هغه تاله نه شي خلاصولی همدغه رنګه د جنت چابی خو لا إله إلا الله ده لکن د هغی غاښونه د اسلام شرائع او بهترين عبادتونه دي لکه مونځ، روژه ، زکاة، حج وغيره پدی بنياد باندی ددغی عملونو کول ضروري دي .

عن وهب بن منبه أنه قيل له :« أليس مفتاح الجنة لا إله إلا الله؟ قال: بلى ولكن ليس مفتاح إلا وله أسنان فإن أتيت بمفتاح له أسنان فتح لک وإلا لم يفتح».

ذكره البخاري تعليقا في الجنائز باب/١.

وهب بن منبه ته وویل شو أیا لا إله إلا الله د جنت چابي نه ده؟ هغه وفرمائیل: ولی نه ده لکن هیڅ یوه چابي نه شته دی مګر د هغی لپاره غاښونه وي که ته یوه چابي راوړی چی غاښونه لری تا لره به تاله خلاصه کړی او که نه وي نو نه ئي خلاصوي.

د جنت زمکه

۱: د جنت د زمکي خاوره زعفران دي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قال: قال رسول الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّم: «الْجَنَّةِ لَبِنَةٌ مِنْ ذَهَبٍ، وَلَبِنَةٌ مِنْ فِضَّةٍ، ترابها الزعفران و طينها المسک»: **أخرجه البزار/ ۳۵۰۹.**

أبو هريرة رضي الله عنه فرمائي :چی رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلی دي: جنت د سرو زرو او سپینو زرو خښتو نه جوړ دی او د هغه خاوره زعفران او د هغه خته مشک دي.

۲: د جنت خاوره مشک دي:

عن أبي ذر أن رسول الله صلى الله عليه وسلم : « ادخلت الجنة فإذا فيها جنابذ اللؤلؤ وإذا ترابها المسک».

أخرجه أحمد/ ۱۴۴/۵، والبخاري/۳۴۹، ومسلم/ ۱۶۳. وهو قطعة من حديث المعراج.

أبو ذر رضي الله عنه فرمائي :چی رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلی دي: زه جنت ته داخل کړی شوم د هغه خاوره مشک وو.

۳: د سپینو خالصو وړو په شان:

د جنت د زمکی په باره کې دا هم راغلي دي چې د جنت د زمکي خاوره د سپينو خالصو وړو په شان ده.

عن أبي سعيد الخدري أن رسول الله صلى الله عليه وسلم سأل ابن صائد عن تربة الجنة فقال: در مكة بيضاء مسك خالص فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم صدق».

أخرجه مسلم/ ۲۹۲۸.

أبو سعيد الخدري رضي الله عنه فرمائي : چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د ابن صائد نه د جنت د خاوري په باره کې پوښتنه وکړه؟ هغه ورته وويل: د جنت خاوره خالص سپين وړو په شان او خالص مشک دي.

عن جابر بن عبدالله إن اليهود جاؤا إلى النبى صلى الله عليه وسلم ..... فقال لهم رسول الله صلى الله عليه وسلم ما تربة الجنة؟ فنظر بعضم إلى بعض وقالوا: خبزة يا أبا القاسم فقال النبى صلى الله عليه وسلم: الخبزة من الدرمک».

أخرجه الترمذي/ ۳۳۲۷.

جابر بن عبدالله رضي الله عنه فرمائي: چې يهود رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلي وو ډيرى خبرى ورسره وشوي نبي صلى الله عليه وسلم تري پوښتنه وکړه چې د جنت خاوره څرنګه ده؟ هغوي يو بل ته وکتل او وي ويل: د سپينو وړو ډوډئ په شان ده.

إمام ابن القيم رحمه الله ددې رواياتو تر منځ داسې تطبيق کړی دی چې دا دری صفات د جنت په خاوره کې شته دی او ددې تر منځ هيڅ تعارض نشته.

۱: بعضو سلفو علماء فرمايلي دي: چې د جنت په خاوره کې دا درې قسمونه شته دی او د جنت خاوره د دواړو نه ده هم د مشکو نه او هم د زعفرانو نه.

۲: د جنت خاوره د زعفرانو نه ده خو چې کله وريکي اوبه واچول شي هغه د مشکو په شان شي لکه چې په بل حديث کې همداسې راغلي چې د جنت د خښتو لپاره مصالحه چې دا خښتې پرې د يو بل سره ميلاويږي هغه مشک دي.

۳: همدغه رنګه داسې تطبيق هم کيدلی شي چې د جنت خاوره د رنګ په لحاظ سره د زعفرانو نه ده او خوشبوئي د مشکو په شان ده او همدغه رنګه د سپينو وړو دوډئ چې کله وي هغه هم سپينه او زيړوالی ته مائل وي او همدغه رنګه نرمه وي.

او همدغه رنګه په سپينوالي کې د هغه تشبيه د سپينو زرو سره هم ورکړی شويده. حادي الأرواح/ ۱۸۵-۱۸۶.

د جنت د ځمکې پراخي

الله رب العالمين جنت او د هغه ځمکه زياته پراخه کړيده تر دې چې أدنی جنتي ته ددې دنيا لس چنده ځمکه او بادشاهت ورکوي.

عَنِ الْمُغِيرَةَ بْنَ شُعْبَةَ عن النبي صلى الله عليه وسلم" سَأَلَ مُوسَى رَبَّهُ، مَا أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً، قَالَ: هُوَ رَجُلٌ يَجِيءُ بَعْدَ مَا أُدْخِلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ، فَيُقَالُ لَهُ: ادْخُلِ الْجَنَّةَ، فَيَقُولُ: أَيْ رَبِّ، كَيْفَ وَقَدْ نَزَلَ النَّاسُ مَنَازِلَهُمْ، وَأَخَذُوا أَخَذَاتِهِمْ، فَيُقَالُ لَهُ: أَتَرْضَى أَنْ يَكُونَ لَكَ مِثْلُ مُلْكِ مَلِكٍ مِنْ مُلُوكِ الدُّنْيَا؟ فَيَقُولُ: رَضِيتُ رَبِّ، فَيَقُولُ: لَكَ ذَلِكَ، وَمِثْلُهُ وَمِثْلُهُ وَمِثْلُهُ وَمِثْلُهُ، فَقَالَ فِي الْخَامِسَةِ: رَضِيتُ رَبِّ، فَيَقُولُ: هَذَا لَكَ وَعَشَرَةُ أَمْثَالِهِ، وَلَكَ مَا اشْتَهَتْ نَفْسُكَ، وَلَذَّتْ عَيْنُكَ، فَيَقُولُ: رَضِيتُ رَبِّ، قَالَ: رَبِّ، فَأَعْلَاهُمْ مَنْزِلَةً؟ قَالَ: أُولَئِكَ الَّذِينَ أَرَدْتُ غَرَسْتُ كَرَامَتَهُمْ بِيَدِي، وَخَتَمْتُ عَلَيْهَا، فَلَمْ تَرَ عَيْنٌ، وَلَمْ تَسْمَعْ أُذُنٌ، وَلَمْ يَخْطُرْ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ". أخرجه مسلم/ ۱۸۹.

مغيرة بن شعبة رضي الله عنه فرمائي: چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: موسى عليه السلام د خپل رب نه پوښتنه وکړه چې أدنى جنتي لپاره په جنت کې څه دي؟ هغه ورته وفرمائيل: يو سړى به په داسې حالت کې راشي چې جنتيان به جنت ته داخل شوي وي هغه ته به وويل شي جنت ته داخل شه، هغه به ووائي: أي زما ربه څرنګه جنت ته داخل شم او حال دا دی چې خلک په خپلو ځايونو کې نازل شوی دي او ټولو خلکو خپلو ځايونه نيولی دي؟ الله رب العالمين به ورته ووائي: آيا ته پدې باندې راضى ئې چې ستا لپاره د دنيا د باداشاهانو په مقدار بادشاهت درکړي شي؟ هغه به ووائي : أي زما ربه زه پرې راضي يم الله به ورته ووائي: ستا لپاره دغه هم ده او د هغې په

شان يو چند بل او هغه يو بل مثل يو بل مثل چې پنځه چندونو ته ورسيږي دا به ووائي چې أي زما ربه زه راضي شوم هغه به ورته وفرمائي : ستا لپاره د دنيا لس چندونه شول او ستا لپاره هغه څه دي چې ستا د نفس ورته شوق کيږي او ستا نفس ئې غواړي او سترګو ته مزه ورکوي.

هغه به ووائي: أي زما ربه زه راضی شوم.

موسى عليه السلام بيا عرض وکړو د أعلى منزلت والا جنتی لپاره څه دي؟ هغه اوفرمائيل: دا هغه خلک دي چې دوی کرامتونه ما په خپل لاس کرلی او غوږونو اوريدلی نه دي او د هيڅ انسان په زړه باندی د هغی څه تير شوي نه دي.

د جنت آبادي

جنت اسم جنس دی او د هغه ډير قسمونه او أنواع لري په هغی کې أعلى او أدنى شته دی لکه څرنګه چې په حديث د أم حارثه کې راغلی.

عن أُمَّ حَارِثَةَ بْنِ سُرَاقَةَ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: يَا نَبِيَّ اللهِ أَلاَ تُحَدِّثُنِي عَنْ حَارِثَةَ، وَكَانَ قُتِلَ يَوْمَ بَدْرٍ أَصَابَهُ سَهْمٌ غَرْبٌ، فَإِنْ كَانَ فِي الجَنَّةِ صَبَرْتُ، وَإِنْ كَانَ غَيْرَ ذَلِكَ، اجْتَهَدْتُ عَلَيْهِ فِي البُكَاءِ، قَالَ: «يَا أُمَّ حَارِثَةَ إِنَّهَا جِنَانٌ فِي الجَنَّةِ، وَإِنَّ ابْنَكِ أَصَابَ الفِرْدَوْسَ الأَعْلَى»

أخرجه البخاري/ ٢٨٠٩.

أم حارثة بن سراقة نبی صلی الله عليه وسلم ته راغله او وي فرمائيل: أي د الله رسوله صلی الله عليه وسلم ته ما ته د حارثه په باره کې

خبر نه راکوي هغه د بدر په ورځ په يو هوائي غشي باندی لګيدلی وو که هغه چيرته په جنت کې وي زه به صبر وکړم او که په جنت کې نه وي زه به په جړا کې زيات کوشش وکړم.

نبی عليه السلام ورته وويل: أي أم حارثة هغه خو ډير جنتونه دي او ستا بچی فردوس أعلی ته رسيدلی دی.

لکن د جنت أصل أبادی دوه قسمه ده بعضی د سرو زرو نه او بعضی د سپينو زرو نه څلور قسمه جنتونه دي دوه قسمه د سرو زرو نه جوړ دي او دوه قسمه د سپينو زرو نه .

عن أبي موسى الْأَشْعَرِي عن رَسُول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال: « جَنَّتَانِ مِنْ ذَهَبٍ آنيتهما وحليتهما وما فيهما، وجَنَّتَانِ مِنْ فِضَّةٍ، آنِيَتُهُمَا وحليتهما وَمَا فِيهِمَا».

أخرجه البخاري/۴۸۷۸ ، مسلم/۱۸۰.

أبو موسى الأشعري رضي الله عنه فرمائي : چی رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائلی دي: دوه جنتونه د سرو زرو نه جوړ شوي دي د هغی لوښی د هغی زيورات او څه چی په جنت کې دي هغه ټول د سرو زرو نه جوړ دي او دوه جنتونه د سپينو زرو نه جوړ دي د هغی لوښی د هغی زيورات او څه چی په هغی کې دي.

په سورة رحمن کې د څلورو جنتونو تذکره

الله رب العالمين په سورة رحمن کې د څلورو قسمونو جنتونو تذکره کړیده او اولنی دوارو جنتونو لپاره ئي صفات ذکر کړی او بیا د وروستنو دوارو لپاره.

فرمائي: (وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ) الرحمن/۴٦.

او بیا فرمائي: (وَمِنْ دُونِهِمَا جَنَّتَانِ) الرحمن/ ٦٢.

فرمائي: څوک چې د الله مخې ته د ودریدو نه ویریږي د هغه لپاره دوه جنتونه دي او بیا فرمائي: د هغې نه لاندی په مرتبه کې دوه قسمه جنتونه دي.

د دوارو جنتونو تر منځ تفاوت

قرآن کریم د دوارو جنتونو تر منځ تفاوت ذکر کړی دی.

او اولنی جنتونه ئې په لسو وجوهاتو باندی په روستنی جنتونو بهتر کړی دي إمام ابن القیم رحمه الله هغه تفصیل سره ذکر کړی دي چې د هغې خلاصه په لاندی ډول سره ده.

۱: اولنی جنتونو په باره کې فرمائي: (ذَوَاتَا أَفْنَانٍ) الرحمن/۴۸.

افنان جمعه دفنن ده هغه یا څانګو ته ویل کیږي او یا قسم قسم ته ویل کیږي یعنې قسم قسم میوي به ورپکی وي او دا صفات ئې وروسته جنت لپاره نه دي ذکر کړي.

۲: د اولنو جنتونو په باره کې الله جل جلاله فرمائي: (فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ) الرحمن/۵۰.

او په روستنو کې وائي: (فِيهِمَا عَيْنَانِ نَضَّاخَتَانِ) الرحمن/٦٦.

جاريتـان هغـه چيـني چې خپلـه تـرى اوبـه روانى وي او نضـاختان چې په جوش ترى اوبه راوځـي د اولنـو منظـر د دويـم نـه ډيـر بهـتر او مزيدار وي.

٣: د اولنو جنتونو په باره کې فرمائي: (فِيهِمَا مِنْ كُلِّ فَاكِهَةٍ زَوْجَانِ) الرحمن/٥٢.

پدى جنتونو کې د هر قسم ميوو نه جوړه جوړه قسم قسم دي.

او دويم جنت کې ئې د خاص قسم ميوو تذکره کوي فرمائي: (فِيهِمَا فَاكِهَةٌ وَنَخْلٌ وَرُمَّانٌ) الرحمن/٦٨.

پدى کې ميوي کجورى او انار دي.

٤: د اولنو جنتونو په باره کې فرمائي: (مُتَّكِئِينَ عَلَى فُرُشٍ بَطَائِنُهَا مِنْ إِسْتَبْرَقٍ وَجَنَى الْجَنَّتَيْنِ دَانٍ) الرحمن/٥۴.

دوى به په داسى فرشونو باندى تکيا ګانى وهلى وي چې د هغى لاندى استر د ريښمو نه وي.

او دويم جنتونو په باره کې فرمائي: (مُتَّكِئِينَ عَلَى رَفْرَفٍ خُضْرٍ وَعَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ) الرحمن/٧٦.

دوى به په داسى څادر باندى تکيا لګولى وي چې هغه به شنه وي او هغه قالينو نه چې هغه ښائسته دي اول قسم ډير غوره دى د دويم نه.

٥: د اولنو جنتونو په باره کې دا کلمه استعمال کړى ده چې (وَجَنَى الْجَنَّتَيْنِ دَانٍ) الرحمن/٥۴.

او ميوى ددغى جنتونو به نژدى او په آسانه راشوکولى کيږى.

او دا صفت ئي د روستنو جنتونو په باره کې نه دی بیان کړی.

٦: د اولنو جنتونو په باره کې فرمائي: (فِيهِنَّ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ) الرحمن/ ٥٦.

پدی جنتونو کې به داسی حورې وي چی هغوي به خپل نظرونه په خپلو خاوندانو باندی بند کړی وي.

او دویم جنتونو په باره کې فرمائي: (حُورٌ مَقْصُورَاتٌ فِي الْخِيَامِ) الرحمن/٧٢.

داسی حوري دي چی هغه په خیمو کې بندی کړی شوي دي.

اولني صفت ددی دویم نه ډیر کامل او پوره دی.

٧: د اولنو جنتونو د حورو په باره کې ئي وويل: (كَأَنَّهُنَّ الْيَاقُوتُ وَالْمَرْجَانُ) الرحمن/٥٨.

او دا صفت ئي د دویم جنتونو د حورو په باره کې نه دي ويلي.

٨: د اول جنتونو په باره کې ئي وويل: (هَلْ جَزَاءُ الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ) الرحمن/ ٦٠. او دا جمله ئي روستني جنتونو په باره کې نه ده ويلي.

٩: مخکنی جنتونه ئي اول ذکر کړل او دویم قسم جنتونه ئي روسته ذکر کړل تقدیم او مخکیوالی هم يوه وجه د فضیلت او بهترئي ده.

١٠: د دويم جنتونو په باره کې فرمائي: (وَمِنْ دُونِهِمَا) الرحمن/٦٢.

او د دی مطلب همدا دی چی دا روستني جنتونه د اولنو جنتونو نه په منزلت کې لاندی او کم دي. حادی الأرواح/١٤٠-١٤٣.

د جنت بنګلی

په جنت کې الله رب العالمين ډيری ښکلی بنګلی پيدا کړی دي، چی قرآن او سنت د هغی تذکره کړی ده.

الله رب العالمين فرمائي: (لَكِنِ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ غُرَفٌ مِنْ فَوْقِهَا غُرَفٌ مَبْنِيَّةٌ)

الزمر/ ۲۰.

لکن هغه کسان چی د خپل رب نه ويريږي د هغوی لپاره بنګلی دي چی د هغی د بره نوری بنګلی جوړی کړی شوی دي ، همدغه رنګه الله رب العالمين د جنت په باره کې فرمائي: (وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ)

الصف/ ۱۲.

او د اوسيدلو ځايونه ډير بهتر او پاک په جنتونو د اقامت او هميشوالی کې.

د فرعون بی بی هم دعا کې ويلی وو: (رَبِّ ابْنِ لِي عِنْدَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ)

التحريم/ ۱۱.

اي زما ربه ما لره په جنت کې کور جوړ کړه.

د جنت بنګلې شفافې دي

عَنْ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ فِي الجَنَّةِ غُرَفًا تُرَى ظُهُورُهَا مِنْ بُطُونِهَا وَبُطُونُهَا مِنْ ظُهُورِهَا، فَقَامَ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ: لِمَنْ هِيَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: لِمَنْ أَطَابَ الكَلاَمَ، وَأَطْعَمَ الطَّعَامَ، وَأَدَامَ الصِّيَامَ، وَصَلَّى بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ.

أخرجه الترمذي/ ١٩٨٤، حسنه الألباني في التعليق الرغيب/٢/٤٦، والمشكاة /١٢٣٣.

علي رضي الله عنه فرمائي : چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائيلي دي: بيشکه په جنت کې داسي بنګلې دي چې د هغې بهر طرف د داخل نه ښکاري او داخل ئې د بهر نه ښکاري.

یو باندچی وویل: یا رسول الله دا د چا لپاره دي؟

نبي صلی الله علیه وسلم وفرمائيل: دا د هغه چا لپاره دي چې ښائسته نرمې خوږې خبري کوي، خلکو ته طعام ورکوي، او همیشه روژې نیسي او د شپې پداسې وخت کې مونځ کوي چې خلک ویده وي.

٢: عن أبي مالك الأشعري أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «إن في الجنة غرفا يرى ظاهرها من باطنها وباطنها من ظاهرها أعدها الله عز وجل لمن أطعم الطعام وأدام الصيام وصلى بالليل والناس نيام».

أخرجه الطبراني/ ٣٤٦٧، وأحمد /٣٤٣/٥، وقال في مجمع الزوائد /٢٥٤/٢ رجاله ثقات. حسنه الألباني في صحيح الجامع/٢١٢٣.

أبو مالک الأشعري رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي: بیشکه په جنت کې داسي بنګلې دي چې د هغې بهر طرف د داخل نه ښکاری او داخل ئې د بهر نه ښکاري.
هغه الله رب العالمین د هغه چا لپاره تیاري کړی دي چې خلکو ته طعام ورکوي همیشه روژې نیسي ، او د شپې هغه وخت کې مونځ کوي چې خلک ویده وي.

۳: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو عن النبي صَلى الله عَليه وسَلم قَالَ: إِنَّ فِي الْجَنَّةِ غُرْفَةً يُرَى ظَاهِرُهَا مِنْ بَاطِنِهَا وَبَاطِنُهَا مِنْ ظَاهِرِهَا أعدها الله لمن أَطْعَمَ الطَّعَامَ، وأدام الصيام، وصلى بالليل وَالنَّاسُ نِيَامٌ. **أخرجه الطبراني /۳۴٦۷، أحمد/ ۳۴۳، وقال فی مجمع الزوائد/۲/۲۵۴، رجاله ثقات.**

عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما فرمائي: چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي: بیشکه په جنت کې داسی بنګله ده چې د هغې بهر طرف د باطن نه ښکاري داخل ئې د بهر نه ښکاري، الله د هغه چا لپاره تیاره کړې ده چې خلکو ته طعام ورکوي، همیشه روژې نیسي، او دشپې په هغه وخت کې مونځ کوي چې خلک ویده وي.

د جنت د بنګلو خښتې

د جنت بنګلې د دنیا په شان د خښتو آبادی نه ده بلکه د هغې خښتې د سرو زرو او سپینو زرو نه دي او د هغې مصالحه مشک دي.
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قُلْت يَا رَسُولَ اللهِ: «مِمَّ خُلِقَ الخَلْقُ؟ قَالَ: مِنَ الْمَاءِ، قُلْتُ: الْجَنَّةُ مَا بِنَاؤُهَا؟ قَالَ: لَبِنَةٌ مِنْ ذهب ولبنة من فِضَّةٍ

وَمِلَاطُهَا الْمِسْكُ الأَذْفَرُ». رواه أحمد/٨٠٤٣، والترمذي/٢٥٢٦، والدارمي /٢٨٦٣، وقال الألباني فى المشكاة/٥٦٣٠، صحيح شواهده.

أبـو هريـرة رضي الله عنـه فرمـائي: مـا رسـول الله صـلى الله عليـه وسلم ته وويل: دا مخلـوق د څـه شي نـه پيـدا كـړې شـويدى؟ هغـه وفرمائيل: د اوبو نه، مـا ورتـه وويـل: د جنـت ابـادى د څـه شي نـه ده؟ هغـه وويـل: د سرو زرو خښـته او د سـپينو زرو خښـته ، او د هغې مصالحه خالص مشك دي.

د سروزروبنګلې

عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: دَخَلْتُ الجَنَّةَ فَإِذَا أَنَا بِقَصْرٍ مِنْ ذَهَبٍ فَقُلْتُ: لِمَنْ هَذَا القَصْرُ؟ قَالُوا: لِشَابٍّ مِنْ قُرَيْشٍ، فَظَنَنْتُ أَنِّي أَنَا هُوَ، فَقُلْتُ: وَمَنْ هُوَ؟ فَقَالُوا: عُمَرُ بْنُ الخَطَّابِ.

أخرجه الترمذي/٣٦٨٨، وقال : هذا حديث صحيح. وصححه الألباني فى الصحيحة / ١٤٠٥، صحيح الجامع/٣٣٦٤.

أنس بن مالک رضي الله عنه فرمائي: چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي: زه جنت ته داخل شوم ناګهانه ما د سرو زرو بنګله وليدله ما پوښتنه وکړه چې دا بنګله د چا ده؟

راته وويـل شـو: چې دا د قريشـو د يـو ځـوان ده، زمـا ګمـان شـو چې هغه به زه يم، وويل هغـه څـوک دی؟ مـا تـه وويـل شـو دا د عمـر بن الخطاب ده.

ملغلرو د دورمو بنګلی

عن عبد الله بن أبي أوفى قال:« بشر النبي صلى الله عليه وسلم خديجة ببيت من قصب لا صحب فيه ولا نصب».

أخرجه البخاري/٣٨١٩، ومسلم/ ٢٤٣٣، وفي الباب عن أبي هريرة وعائشة ، من حديث الصحيحين.

عبدالله بن أبي أوفى رضي الله عنه نه پوښتنه وشوه چې آيا رسول الله صلى الله عليه وسلم خديجه رضي الله عنها ته زيرى ورکړي وو؟

هغه وويل: هو، ما ورته وويل: د څه شي زيرى ورکړى وو؟ هغه وويل: د جنت په کور چې د دورمو نه جوړ دی، چې په هغی کې شور هم نشته او نه وریکی سترتیا شته دی.

إمام ابن القيم رحمه الله فرمائي: د درمو دلته مراد د ډډ کړی شوو ملغلرو درمي دي. حادى الأرواح/١٩٣.

د جنت خیمي

په جنت کې د جنتیانو لپاره خیمي دي چې قرآن ذکر کړي دي : (حُورٌ مَقْصُورَاتٌ فِي الْخِيَامِ) الرحمن/٧٢.

عن أبي موسى الأشعري عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «إِنَّ لِلْمُؤْمِنِ فِي الْجَنَّةِ لَخَيْمَةً مِنْ لُؤْلُؤَةٍ وَاحِدَةٍ مُجَوَّفَةٍ، طُولُهَا سِتُّونَ مِيلًا، لِلْمُؤْمِنِ فِيهَا أَهْلُونَ، يَطُوفُ عَلَيْهِمِ الْمُؤْمِنُ فَلَا يَرَى بَعْضُهُمْ بَعْضًا».

أخرجه البخاري/٣٢٤٣، ومسلم/٢٨٣٨.

أبو موسى الأشعري رضي الله عنه فرمائي:چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي: بیشکه په جنت کې یوه خیمه د یوي

ددې کړې شوې ملغلرې نه جوړه ده چې د هغې اوګدوالی شپېته ميله دی، د مؤمن لپاره په هغه کې د هغه أهل دی دا مؤمن به په هغوي باندې چکر لګوي او د هغوی سره به يو ځائی کيږي او بعضې به بعضو لره نه ويني.

د جنت د بنګلواوچت والی

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ رَضِيَ الله عَنْهُ قال: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ أَهْلَ الجَنَّةِ لَيَتَرَاءَوْنَ أَهْلَ الغُرَفِ كَمَا يَتَرَاءَوْنَ الكَوْكَبَ الدُّرِّيَّ الغَابِرَ فِي الأُفُقِ». أخرجه البخاري/٣٢٥٦، ومسلم/ ٢٨٣١.

أبـو مـوسى الأشـعري رضي الله عنـه فرمـائي: چې رسـول الله صـلى الله عليـه وسـلم فرمـائيلي دي: بيشـکه د جنـت والا بـه د اوچتـو بنګلـو والا داسې ويـني لکـه څرنګـه چې دوی چمکـدار ستوري د اسمان په کنارو کې ويني.

د جنت درجات:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ الله عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ فِي الجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ، أَعَدَّهَا الله لِلْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللهِ مَا بَيْنَ الدَّرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ». أخرجه البخاري/ ٧٩٠.

أبو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي: بيشکه په جنت کې سل درجې دي چې الله د مجاهد فی سبيل الله لپاره تيار کړې دي د داوړو درجو تر منځ دومره مسافه ده لکه څومره چې اسمان او د زمکي تر منځ مسافه ده.

د قرآن کریم د قاري لپاره زیات درجات

څرنګه چې په جنت کې مجاهد لپاره سل درجات دي همدغه رنګه د قرآن کریم د قاري لپاره هم زیات درجات دي،

څکه د قرآن کریم قاري به د قران کریم تلاوت کوي او دجنت په درجاتو کی به بره خیژي.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يُقَالُ لِصَاحِبِ الْقُرْآنِ: اقْرَأْ، وَارْتَقِ، وَرَتِّلْ كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا، فَإِنَّ مَنْزِلَكَ عِنْدَ آخِرِ آيَةٍ تَقْرَؤُهَا ".

أخرجه الترمذي/ ٢٩١٤، وأبو داود/١٤٦٤، وابن ماجة /٣٧٨٠، صححه الألباني فی صحيح أبی داود/ ١٣١٧، وصحيح الجامع/ ٨١٢٢.

عبدالله بن عمرو رضي الله عنه فرمائي : چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلي دي: د قرآن کریم لوستونکی ته به د قیامت په ورځ ویل کیږي، قرآن کریم لوله او د جنت په درجاتو کې بره خیژه ، او قرآن کریم داسی په آرام آرام سره لوله لکه څرنګه چی تا په دنیا کې په آرام آرام سره لوستلو بیشکه ستا منزله هغه ده په کوم ځائی کې چی ته اخرنی آیت ولولی.

٢: ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: يَجِيءُ الْقُرْآنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَقُولُ: يَا رَبِّ حَلِّهِ، فَيُلْبَسُ تَاجَ الْكَرَامَةِ، ثُمَّ يَقُولُ: يَا رَبِّ زِدْهُ، فَيُلْبَسُ حُلَّةَ الْكَرَامَةِ، ثُمَّ يَقُولُ: يَا رَبِّ ارْضَ عَنْهُ، فَيَرْضَى عَنْهُ، فَيُقَالُ لَهُ: اقْرَأْ وَارْقَ، وَيُزَادُ بِكُلِّ آيَةٍ حَسَنَةً. أخرجه الترمذي/ ٢٩١٥، وقال

هذا حديث حسن صحيح، والحاكم /٥٥٢/١ ،وقال: هذا حديث صحيح الاسناد ولم يخرجاه ووافقه الذهبي ، حسنه الألباني فى صحيح الترغيب/١٤٢٥.

أبو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي: د قيامت په ورځ باندی به د قرآن لوستونکی إنسان راشي او قرآن كريم به الله ته عرض وکړي، يا الله دی انسان لره ډولی کړه، او ده ته جوړه ورواچوه، الله جل جلاله به هغه ته د کرامت تاج ورپه سر کړی ، قرآن كريم به بيا ووائي : يا الله ده لره زينت او ډول زيات کړه، الله جل جلاله به ورته د كرامت جوړه ورواغوندی ، بيا به الله رب العالمين ته ووائي : يا الله ددی نه راضی شه الله به تری راضی شي بيا به ده ته وويل شي، قرآن كريم لوله او د جنت په درجاتو کی بره خيژه او ده ته به د هر يو آيت په وجه باندی يوه يوه نيکي ورکړی شي.

د لاندی او بره درجاتو تر منځ تفاوت

عن أبي سعيد رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: « إِنَّ أَهلَ الدَّرجَاتِ العُلى يَرَاهُم مَنْ هُوَ أَسفَل مِنهُم كَمَا تَرونَ الكَوكَبَ الطَّالِعَ فِى أُفُقِ السَّماءِ».

أخرجه الترمذي/ ٣٦٥٨، وأحمد /١١٢١٣، صححه الألباني فى صحيح الجامع/ ٢٠٣٠.

أبو سعيد الخدري رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي: بيشكه د اوچتو درجاتو والا به د لاندی درجاتو والا داسی ويني لکه څرنګه چی تاسو د اسمان په کنارو کې راختونکی ستوری وينئ.

د جنت اوچته درجه الوسيلة

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِذَا سَمِعْتُمُ الْمُؤَذِّنَ، فَقُولُوا مِثْلَ مَا يَقُولُ ثُمَّ صَلُّوا عَلَيَّ، فَإِنَّهُ مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ بِهَا عَشْرًا، ثُمَّ سَلُوا اللهَ لِيَ الْوَسِيلَةَ، فَإِنَّهَا مَنْزِلَةٌ فِي الْجَنَّةِ، لَا تَنْبَغِي إِلَّا لِعَبْدٍ مِنْ عِبَادِ اللهِ، وَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَنَا هُوَ، فَمَنْ سَأَلَ لِي الْوَسِيلَةَ حَلَّتْ لَهُ الشَّفَاعَةُ». أخرجه مسلم/ ٣٨٤.

د عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمائي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلی دي: کله چې تاسو د آذان کونکی نه اذان واورئ، تاسو هغه کلمات ووائي چې اذان کونکی ئې وائي : بيا زما لپاره د الوسيلة دعا وغواړئ ځکه دا په جنت کې يوه منزله ده مناسب نه ده مګر د الله په بندګانو کې د يو بنده لپاره زه اوميد لرم چې دغه بنده به زه يم چا چې زما لپاره د الوسيلة دعا وغوښتله د هغه لپاره به زما شفاعت جائز شي.

عن أبي سعيد الخدري قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «إن الوسيلة درجة عند الله ليس فوقها درجة فسلوا الله أن يؤتينيها على الخلق يوم القيامة».

أخرجه ابن مردويه، وحسنه الألباني فى صحيح الجامع/١٩٨٨.

أبو سعيد الخدري رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی دي: وسیلة په جنت کې داسی درجه ده چې د هغی نه

بره بله درجه نشته دی ، تاسو د الله نه وغواړئ چې الله ئې په مخلوق کې دغه درجه ما ته قيامت کې راکړي.

د جنت ونې او ميوې

١: عَنْ أَنَسٍ بن مالک رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:إِنَّ فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةً يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّهَا مِئَةَ عَامٍ لاَ يَقْطَعُهَا إِنْ شِئْتُمْ فاقْرَءُوا:{وَظِلٍّ مَمْدُود، وَمَاءٍ مَسْكُوبٍ}الواقعة / ٣٠-٣١.

أخرجه البخاري ٣٢٥١، ومسلم ٢٨٢٦.

أنس بن مالک رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلی دي: بيشکه په جنت کې بوټی شته دی چې يو سورلئ باندی سور إنسان د هغی په سوری کې سل کاله مزل کوي او د هغی سوری نه ختميږي که ستاسو خوښه وي دا آيت ولولئ: او سوری اوګده او اوبه چې د زمکي په مخ باندی اړول شوی وي.

٢: عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: « إن فى الجنة شجرة يسير الراكب الجواد المضمر السريع مائة عام لا يقطعها ».

أخرجه البخاري/ ٦٥٥٣، مسلم / ٢٨٢٨.

أبو سعيد الخدري رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلی دي: بيشکه په جنت کې ونه ده چې په کره تازی کړی شوی تيز اس باندی يو سړی سل کاله مزل وکړی د هغه سوری به ختم نه شي.

د جنت د ونو بيان

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «ما في الجنة من شجرة إلا وساقها من ذهب».

أخرجه الترمذي/٢٥٢٥، وابن حبان/٤٧١٠، صححه الألباني في المشكاة /٥٦٢٣، وصحيح الترغيب/٤/٢٥٧، وصحيح الجامع/٥٦٤٧.

أبو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي: په جنت کې هيڅ يوه ونه نه شته دی مګر د هغې تنې د سرو زرو نه دي.

٢: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ الله عَنْهُمَا قَالَ: «نَخْلُ الْجَنَّةِ جُذُوعُهَا زُمُرُّدٌ أَخْضَرُ وَكَربها ذَهَبٌ أَحْمَرُ، وَسَعَفُهَا كِسْوَةٌ لِأَهْلِ الْجَنَّةِ مِنْهَا مُقَطَّعَاتُهُمْ وَحُلَلُهُمْ وَثَمَرُهَا أَمْثَالُ الْقِلَالِ أَوِ الدِّلَاءِ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ، وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ، وَأَلْيَنُ مِنَ الزُّبْدِ، وَلَيْسَ لَهَا عَجْمٌ».

أخرجه البيهقي في البعث والنشور/٣١٧، والحاكم/ ٢/٤٧٥، وصححه ووافقه الذهبي، وصححه الألباني في صحيح الترغيب/٣٧٣٥.

ابـن عبـاس رضي الله عنهمـا فرمـائي: چې د جنـت کجـورو تـنې د شـنو زمـرودو نـه دي او د هـغې د لښـتو پـانو بـيخ بـه د سرو زرو نـه دي او د هـغې وچې پـانې بـه د جنتيـانو لپـاره لبـاس وي د هـغې نه بـه د هـغې کپړې لکـه کمـيس کوډونـه چپـنې او جـوړې وي او د هـغې ميـوې بـه د منګـو او د بوقـو پـه مقـدار بانـدې وي، چې د پيو، شيدو، نه بـه ډيـر سـپين وي او زګ نـه بـه ډيـر زيـات نـرم وي په هغې کې به هډوکې او زړې نه وي.

د جنت د بوټو میوي

قرآن کریم دا خبره هم ثابته کړیده چې په جنت کې قسما قسم میوي هم شته لکن د جنت میوي دوه قسمه دي:

یو هغه چې په دنیا کې د هغې نوم او نشان شته دی اګر چې د دنیا میوي د جنت د میوو سره یو شان او مشابه نه دي، لکن څه نا څه مشابهت ئې شته دی چې په هغې باندی د بندګانو فهم راشي چې قرآن کریم د هغې نومونه ذکر کړی دي.

۱: سدر۔ یعنی بیره.

۲: طلح ، کیلې او یا بعضو علماء ئې تفسیر کوي چې دا په بانډو کې یوه ونه ده چې ډیر ازغی وریکی دي.

۳: کجوری.

٤: آنار.

الله رب العالمین فرمائي: (وَأَصْحَابُ الْيَمِينِ مَا أَصْحَابُ الْيَمِينِ، فِي سِدْرٍ مَّخْضُودٍ ، وَطَلْحٍ مَّنضُودٍ، وَظِلٍّ مَّمْدُودٍ ، وَمَاءٍ مَّسْكُوبٍ ، وَفَاكِهَةٍ كَثِيرَةٍ ، لَّا مَقْطُوعَةٍ وَلَا مَمْنُوعَةٍ)

الواقعة/۲۷-۳۳.

او د ښی طرف واله څه ډیر ښه دي د ښی طرف والا، هغوی به په داسی بیرو کې وي چې د هغې ازغی به پریکړی شوی وي او داسی کیلې چې هغه به یو بل ته جوختی وي، او سوری اوګده، او اوبه د زمکی په سر باندی توی کړی شوي، او میوي ډیري.

او فرمائي: (فِيهِمَا فَاكِهَةٌ وَنَخْلٌ وَرُمَّانٌ) الرحمن/ ٦٨.
پدی دواړو جنتونو کې میوي دی کجوری او آنار.
۱: د جنت د میوو په باره کې قرآن کریم خبر ورکړی او فرمائي: (إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي ظِلَالٍ وَعُيُونٍ ، وَفَوَاكِهَ مِمَّا يَشْتَهُونَ ، كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ)
المرسلات/۴۱-۴۳.
۲: (فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَاضِيَةٍ ، فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ، قُطُوفُهَا دَانِيَةٌ ، كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا أَسْلَفْتُمْ فِي الْأَيَّامِ الْخَالِيَةِ) الحاقة/۲۱-۲۴.
د جنت دوهم قسم میوي هغه دي چی په دنیا کې د هغی مثال نشته دی، او نه ئی نوم او نشان شته قرآن کریم هغه په طریقی د اشاری سره ذکر کړی دي.
فرمائي: (فِيهِمَا مِنْ كُلِّ فَاكِهَةٍ زَوْجَانِ) الرحمن/۵۲.
پدی دواړو جنتونو کی به د هر قسم میوو نه جوړه جوړه او قسما قسم وي دلته ئي په من کل فاکهة کی اشاره وکړه یعنی هغه میوي چی نه ئي نوم پیژنی او که نه ئی پیژني او په دنیا کې د هغی مثال شته او که نشته دی.
۱: عن عقبة بن عبد السلمي قال: كنت جالساً مع النبي صلى الله عليه وسلم فجاء أعرابي فقال: يا رسول الله أسمعك تذكر في الجنة شجرة لا أعلم أكثر شوكاً منها - يعني الطلح - فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "يجعل مكان كل شوكة منها

خصوة التيس الملبود - يعني الخصي- منها - سبعون لوناً من الطعام لا يشبه لون آخر".

أخرجه البهقي فى البعث والنشور/٦٩، وأبو نعيم فى الحلية /١٠٣/٦، وقال البهقي فى مجمع الزوائد/٤١٤/١٠ ، وقال رواه الطبراني ورجاله رجال الصحيح، سلسلة الأحاديث الصحيحة /٢٧٣٤.

عتبة بن عبد السلمي رضي الله عنه فرمائي: چې زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ناست ووم چې يو باندچې راغلى او وي فرمائيل: زه د تا نه اورم چې ته په جنت کې د يوي ونى تذکره کوي چې ما ته هيڅ يوه ونه معلومه نه ده چې په هغى کې ددى نه ازغى زيات وي، يعنى - الطلح - ونه .

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمائيل: الله رب العالمين د هر أزغى په ځائى په هغى کې داسى ميوه ګرځولى ده لکه: يو ګډ د هګئ په مقدار باندي.

عن سليم بن عامر قال: أقبل أعرابي يوماً فقال: يا رسول الله، لقد ذكر الله في القرآن شجرة مؤذية وما كنت أرى إن في الجنة شجرة تؤذي صاحبها فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم وما هي؟ قال : السدر فإن لها شوكاً فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: في سدر مخضود يخضد الله شوكه فيجعل مكان كل شوكة ثمرة.

أخرجه أبى أمامة أخرجه الحاكم/٤٧٦/٢، وصححه ووافقه الذهبي ، قال الألباني فى صحيح الترغيب/٣٧٤٢، صحيح لغيره.

سليم بن عامر رضي الله عنه فرمائي: چې يوه ورځ يو باندچې راغلی او وي ويل: يا رسول الله ، الله رب العالمين په قرآن کريم کې يو ضرری ونه ذکر کړی ده او زما دا خيال نه وو چې په جنت کې به داسی ونه وي چې هغه دی ضرر رسوي ،رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: هغه کومه ونه ده .

باندچې ووېل : هغه بېره ده ځکه د هغې داسی ازغی دي چې ضرر رسوی هغه ورته وويل: تا د الله جل جلاله دا قول نه دی اوريدلی چې : «وسدر مخضود» الله رب العالمين د هغې ازغی پرې کړی دي او د هر ازغی په ځائي باندی ميوه راټوکولی ده.

د جنت د ميوو د يوشان والی بيان

الله جل جلاله فرمائي: (وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ كُلَّمَا رُزِقُوا مِنْهَا مِنْ ثَمَرَةٍ رِزْقًا قَالُوا هَذَا الَّذِي رُزِقْنَا مِنْ قَبْلُ وَأُتُوا بِهِ مُتَشَابِهًا وَلَهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُطَهَّرَةٌ).

البقرة/ ٢٥.

او زيری ورکړه هغه کسانو ته چې ايمان ئې راوړی دی او نيک عملونه کوي د هغوی لپاره جنتونه دي چې بهيږي به لاندی د هغې نه نهرونه، هر کله چې ورکړي شي ددغی نه څه ميوه رزق دی وائي چې دا هغه څه دي چې مونږه ته مخکی راکړی شويدي او راوړلی به شي دوی ته دغه يو شان يو بل ته ورته او دوی لپاره به ببياني پاکی کړی شوي وي.

هذا الذی رزقنا من قبل

ددې جملې په تفسير کې مفسرين يو څو اقوال نقل کوي

١: کله چې دوی ته په جنت کې ميوې راوړل شي دوی به وائي دا هغه ميوه ده چې مونږه ته په دنيا کې ړاکړی شوي وه.

او دا قول د عبدالله بن عباس، ابن مسعود او بعضی صحابه کرامو نه نقل دي همدغه رنګه د مجاهد او ابن زير رحمهم الله نه نقل شويدی.

٢: دا هغه ميوه ده چې مونږه ته لږ وخت مخکې په جنت کې راکړی شوه او هغوی وائي چې د جنت خادمان به دوی ته يو قسم ميوه راوړي بله ميوه چې ورته راوړی ورته وبه وائي چې تاسو دغه ميوه وخورئ جنتيان به ووائي : دغه ميوه مونږه اوس لږ مخکې وخوړله هغوی به ورته ووائي: تاسو وخورئ ددی رنګ د هغې سره يو شان دی او خوند ئې جدا جدا دی.

تفسير ابن جرير الطبري، حادى الأرواح/٢٢٧.

وأتوا به متشابها

دې جملې په تفسير کې هم مفسرين څو أقوال نقل کوي چې خلاصه به ئې په لاندې ډول په مختصر انداز سره ذکر کړو:

١: حسن رحمه الله فرمائي: د جنت ميوې يو شان دي چې ټولې أعلى او کره دي ردي او بې کاره ميوې ورپکې نشته دی.

۲: عبد الله بن مسعود ، عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمائي: چې د جنت ميوې د يو بل سره په رنګ او ليدلو کې يو شان دي او په خوند کې د يو بل سره مشابه نه دي.

او همدغه قول د مجاهد رحمه الله نه هم نقل دی.

۳: د جنت ميوې په رنګ کې د دنيا د ميوو سره يو شان دي.

٤: بعضې مفسرين فرمائي: چې د جنت ميوې به جنتيان داسې پيژني لکه د دنيا ميوې چې پيژني. حادى الأرواح/۲۳۰.

د جنت د ميوې يو غونچک د ټولې دنيا لپاره ترقيامته کافي کيږي

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: خَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَصَلَّى، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ ، رَأَيْنَاكَ تَنَاوَلْتَ شَيْئًا فِي مَقَامِكَ، ثُمَّ رَأَيْنَاكَ تَكَعْكَعْتَ، قَالَ: «إِنِّي أُرِيتُ الجَنَّةَ، فَتَنَاوَلْتُ مِنْهَا عُنْقُودًا، وَلَوْ أَخَذْتُهُ لَأَكَلْتُمْ مِنْهُ مَا بَقِيَتِ الدُّنْيَا» أخرجه البخاري/۷۴۸، ومسلم/۹۰۷.

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمائي: چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کې لمر خړ شوی وو هغه مونځ کولو صحابه کرامو ورته وويل: يا رسول الله مونږه تا لره وليده چې يو څيز ته دی لاس ورواچولو او بيا مو وليدلی چې روسته شوې هغه وفرمائيل: ما ته جنت راښودل شوی وو، ما د هغې نه يو غونچک ته لاس کړه که چيرته ما هغه راخستلی وې تاسو به د هغې نه تر هغې وخته پورې خوراک کولو ترڅو چې دنيا باقي وي.

د جنت د میوو خوراک

عن البراء بن عازب رضي الله عنهما قال: « إن أهل الجنة يأكلون فى ثمار الجنة قياما وقعودا ومضطجعين على أي حال شاؤوا».

أخرجه البهقي فى البعث والنشور/ ٣١٣، وذكره السيوطي فى الدر المنثور وزاد نسبته إلى الفريابى ، وابن أبى شيبة والحاكم، والدر المنثور / ٣٠٠/٦، وقال الألباني فى صحيح الترغيب/ ٣٧٣٤، صحيح لغيره.

براء بن عازب رضي الله عنهما فرمائي: چې د جنت والا به د جنت میوي په ولاړه ناسته او د تکیا په حالت کې خوري په کوم حال کې چې دوی وغواړی په هغه حالت کې به ئي خوري.

په جنت کې کشت اوکر

په جنت کې خو الله رب العالمین هر څه جنتیانو ته تیار ورکوي کشت او کر ته ضرورت نشته دی لکن په جنت کې الله رب العالمین د انسان د نفس هر خواهش پوره کړی دی.

الله رب العالمين فرمائي: (وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ الْأَنْفُسُ وَتَلَذُّ الْأَعْيُنُ) الزخرف/ ٧١.

او پدی جنت کی هغه څه وي چې د نفس ورته شوق او شهوت کیږي او سترګو لره لذت او مزه ورکوي، که یو جنتی په جنت کې کشت او کر ته شوق وشي هغه به هم ورته ورکولی شي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَوْمًا يُحَدِّثُ وَعِنْدَهُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ البَادِيَةِ: " أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الجَنَّةِ اسْتَأْذَنَ رَبَّهُ فِي الزَّرْعِ، فَقَالَ لَهُ: أَوَلَسْتَ فِيمَا شِئْتَ؟ قَالَ: بَلَى، وَلَكِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَزْرَعَ، فَأَسْرَعَ

وَبَذَرَ، فَتَبَادَرَ الطَّرْفَ نَبَاتُهُ وَاسْتِوَاؤُهُ وَاسْتِحْصَادُهُ وَتَكْوِيرُهُ أَمْثَالَ الجِبَالِ، فَيَقُولُ اللهُ تَعَالَى: دُونَكَ يَا ابْنَ آدَمَ، فَإِنَّهُ لاَ يُشْبِعُكَ شَيْءٌ"

أخرجه البخاري/٥٧١٩.

أبو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې يو سړی د جنت والاو نه به د الله نه د کشت او کر په باره کې اجازت وغواړي الله رب العالمين به ورته ووائي: آيا په هغه نعمتونو کې نه ئې کومو نعمتونو ته چې ستا شوق او اشتها کيږي؟ هغه به ورته ووائي: ولې نه يم يا ربه لکن زه کشت او کر خوښوم الله به هغه ته اجازت ورکړي هغه به دانې وکري د سترګو د رپيدلو نه به مخکې د هغې راټوکيدل، برابريدل، لو کيدل، او راجمع کيدل وشي چې د غر په مقدار فصل به ئې وشي الله جل جلاله به ورته ووائي: واخله ای بنيادمه تا لره هيڅ شي نه شی مړولی.

د جنت خوراکونه

د جنت د خوراکونو په باره کې الله رب العالمين فرمائي:(وَأَمْدَدْنَاهُمْ بِفَاكِهَةٍ وَلَحْمٍ مِمَّا يَشْتَهُونَ ۞ يَتَنَازَعُونَ فِيهَا كَأْسًا لَا لَغْوٌ فِيهَا وَلَا تَأْثِيمٌ) الطور/٢٢-٢٣.

او زيات به کړو مونږه دی جنتيانو ته د نورو نعمتونو سره سره ميوې، او داسې غوښې چې د دوی به ورته اشتهاء کيږي د يو بل نه به په کپ شپ باندې جامونه اخلي چې نه به بې هوده خبرې وي پدې جنت کې او نه د ګناه خبرې.

قرآن کريم د مرغانو د غوښې تذکره کوي فرمائي: (وَفَاكِهَةٍ مِمَّا يَتَخَيَّرُونَ (٢٠) وَلَحْمِ طَيْرٍ مِمَّا يَشْتَهُونَ) الواقعة/٢٠-٢١.

او داسې میوې چې دا جنتیان به ئې ځان لپاره غوره کوي، او د مرغانو غوښې چې د دوی به ورته اشتهاء او شوق کیږي.
قرآن کریم د جنت د خوراکونو او سکاکونو تذکره کوي فرمائي: (كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ) المرسلات/۴۳.
خورئ او سکئ پداسې حالت کې چې تاسو په دغه خوراک ښه مزه اخلې او دا به زر هضم کیږي ضرر به نه رسوي، دا په سبب ددې چې تاسو کوم عمل کړی دی.

جنتیانو ته اول طعام

کله چې جنتیان جنت ته داخل شي الله رب العالمین به هغوی ته اولنی خوراک د ماهی جګر کلیجې ورکوي.
عن أَنَس بن مالک رضي الله عنه فی قصة اسلام عَبْد الله بْن سَلاَمٍ رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «وَأَمَّا أَوَّلُ طَعَامٍ يَأْكُلُهُ أَهْلُ الجَنَّةِ فَزِيَادَةُ كَبِدِ الحُوتِ».
أخرجه البخاري/ ۳۹۳۸، الزيادة القطعة المنفردة المعلقة فی الکبد.
أنس بن مالک رضي الله عنه فرمائي: کله چې عبدالله بن سلام رضي الله عنه د نبي صلى الله عليه وسلم سره ملاقات وشو هغه ترې یوه پوښتنه دا وکړه چې اولنی خوراک به جنتیان د څه شی کوي؟
هغه ورته وویل: چې اول خوراک چې جنتیان ئې خوري هغه به د ماهي کلیجي وي.

عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلى الله عَليه وسَلم: إِنَّ طَيْرَ الْجَنَّةِ كَأَمْثَالِ الْبُخْتِ تَرْعَى فِي شَجَرِ الْجَنَّةِ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ هَذِهِ لَطَيْرٌ نَاعِمَةٌ فَقَالَ أَكَلَتُهَا أَنْعَمُ مِنْهَا قَالَهَا ثَلاَثًا وَإِنِّي لأَرْجُو أَنْ تَكُونَ مِمَّنْ يَأْكُلُ مِنْهَا».

أخرجه أحمد/١٣٤٧٥، قال الألباني في صحيح الترغيب/٣٧٢٤ حسن صحيح.

أنس رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي: بيشکه په جنت کې داسي مرغان دي لکه د خراساني اوښانو په شان چې د جنت په بوټو کې څريږي.

أبو بكر الصديق رضي الله عنه وويل: دا خو ډير چاق او ډير بهتر مرغان دي. نبي صلى الله عليه وسلم وويل: څوک چې ددی خوړونکي دي هغه ددغی نه زيات بهتر دي.

عن انس بن مالك يرفعه قال:«إن أسفل اهل الجنة اجمعين من يقوم على رأسه عشرة الاف خادم مع كل خادم صحفتان واحدة من فضة وواحدة من ذهب في كل صحفة لون ليس في الأخرى مثلها، يأكل من آخره كما يأكل في أوله يجد لآخره من اللذة والطعم ما لا يجد لأوله ثم يكون فوق ذلك رشح مسك وجشا مسك لا يبولون ولا يتغوطون ولا يتمخطون». **قال الهيثمي في المجمع/١٠/٤٠١ رواه الطبراني في الأوسط ورجاله ثقات، وقال المنذري في الترغيب/٥٥٠٣ ورواته ثقات.**

أنس بن مالک رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: بيشکه په جنت کې د ټولو نه لاندی درجه إنسان هغه دی چې د هغه سر سره به لس زره خادمان وي ، د هر خادم سره

به دوه کاسي وي، یوه د سپینو زرو او بله د سرو زرو په هره کاسه کې به خوراک وي چې پدې بله کې به نه وي، دوي آخر به داسې خوري لکه اول چې څرنګه خوري، د آخرنی خوراک به داسي خوند وي لکه د اولنی چې وي بیا به هغی نه روسته د مشکو په شان خوله په بدن باندی راشي او د مشکو په شان وګمی به وکړي، هلته به وړوکې او لوي حاجت نه وي او نه به د پوزي ګندګي وي.

د جنتیانو سکاک

لکه څرنګه چې جنتیان په جنت کې خوراک کوي همدغه رنګه به جنتیان په جنت کی سکاک کوي قرآن کریم د جنتیانو سکاک ذکر کړی دی، چې هغه به دلته اجمالا ذکر کړو:

۱: (يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِكَأْسٍ مِنْ مَعِينٍ) الصافات/ ۴۵.

او چلولی به شي پدوي باندی جامونه د شرابو د داسی نهرونو نه چې هغه به جاری وي په جنت کې.

۲: (يَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُخَلَّدُونَ ، بِأَكْوَابٍ وَأَبَارِيقَ وَكَأْسٍ مِنْ مَعِينٍ) الواقعة/۱۷-۱۸.

او چلولی به وي پدوي باندی هلکان همیشه په جګونو او ګیلاسونو باندی او داسي جامونو باندی چې هغه د خالصو شرابو نه وي.

۳: (يُسْقَوْنَ مِنْ رَحِيقٍ مَخْتُومٍ) المطففین/۲۵.

پدوي باندی به خالص شراب سکولی شي.

د جنت شراب د نقصاناتو نه پاک دی

د دنیا شراب يو څو نقصانات لري چې الله رب العالمين د جنت شراب ددغې نقصاناتو نه پاک کړی دي.

۱: الله رب العالمين د جنت د شرابو په باره کې فرمائي: (لَا فِيهَا غَوْلٌ) الصافات/۴۷.

د جنت په شرابو کې به سر درد نه وي، إمام مجاهد ، قتادة رحمهما الله فرمائي: (غَوْلٌ) د خيټې درد ته ويل کيږي.

الله رب العالمين فرمائي: (لَا يُصَدَّعُونَ عَنْهَا) الواقعة /١٩.

د سر درد به نه وي.

د جنت په شرابو کې به د سر درد نه وي.

۲: د دنيا شراب د انسان عقل لوټ کوي.

الله د جنت شراب د هغې نه پاک کړی دي دی په باره کې فرمائي: (وَلَا يُنْزِفُونَ) الواقعة /١٩.

د جنت شراب عقل نه لوټ کوي.

عن ابن عباس فى الخمر أربع خصال: السكر، والصداع، والقئ، والبول، فذكر خمر الجنة فنزهها عن هذه الخصال. (تفسير ابن كثير).

ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي: د دنيا په شرابو کې څلور صفات دي، نشه پيدا کوي، درد سر، اولتي پيدا کوي، بول پيشاب زياتيدل.

الله رب العالمين د جنت شراب ذکر کوي او ددغې نقصاناتو نه ئې پاکي بيانوي.

د جنت چیني

په جنت کې بعضې ځانګړي چیني دي چې الله رب العالمین په قرآن کریم کې د هغی تذکره کړیده او فرمائي:

(إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ) الذاريات/ ۱۵.

یقیناً متقیان به وي په باغونو او چینو کې.

۱: (إِنَّ الْأَبْرَارَ يَشْرَبُونَ مِنْ كَأْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا، عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ اللهِ يُفَجِّرُونَهَا تَفْجِيرًا) الإنسان/۵-۶.

بیشکه نیکان چې دي سکي به هغوي د جامونو نه چې ګډ وړ شوی به وي د هغی سره د کافور نه چې دا یو جنتی چینه ده، سکی به هغی لره نیکان چې روانه کړی به ئې وي دغی چیني لره په روانولو سره.

۲: (وَيُسْقَوْنَ فِيهَا كَأْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنْجَبِيلًا ، عَيْنًا فِيهَا تُسَمَّى سَلْسَبِيلًا) الإنسان/۱۷-۱۸.

او سکلی به شي پدوي باندی پدی جنت کې داسی ډک جامونه د شرابو چې د هغی سره به خلط او ګډ وي زنجبیل، یوه چینه ده په جنت کې چې نوم ورته ورکولی شي سلسبیل.

۳: (وَمِزَاجُهُ مِنْ تَسْنِيمٍ ، عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُونَ) المطففين/۲۷-۲۸.

او ګډون ددغی شرابو به د تسنیم د چیني نه وي دا یوه چینه ده چې سکي به هغی لره مقربون الله ته نژدی کړی شوی مؤمنان.

د جنت نهرونه

قرآن كريم كې الله رب العالمين په جنت كې د نهرونو تذكره هم كړيده او فرمائي:

١: (مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ أُكُلُهَا دَائِمٌ وَظِلُّهَا) الرعد/ ٣٥.

مثال د هغې جنت چې وعده ئې كړې شويده د متقيانو سره بهيږي به لاندې د هغې نه نهرونه .

٢: (وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ) البقرة/ ٢٥.

زيري وركړه هغه كسانو ته چې ايمان ئې راوړې او نيک عملونه كوي چې د دوی لپاره جنتونه دي چې بهيږي به لاندې د بنګلو او ونو د هغې نه نهرونه.

٣: (جَنَّاتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ لَهُمْ فِيهَا مَا يَشَاءُونَ كَذَلِكَ يَجْزِي الله الْمُتَّقِينَ) النحل/٣١.

جنتونه د هميشګري به وي چې دوي به ورته داخليږي بهيږي به لاندې د هغې نه نهرونه د دوی لپاره به پدغه جنت كې هغه څه وي چې دوی به ئې غواړي همدغه رنګه الله متقيانو ته بدله وركوي.

د جنت د نهرونو تفصیل

قرآن کریم کې الله رب العالمین په سورة محمد کې د څلورو نهرونو بیان کړی دی چې بعضی نهرونه د اوبو دي بعضی نهرونه د پیو شیدو دي، بعضی نهرونه د شرابو دي بعضی نهرونه د ګبینو او شهدو دي.

(مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ فِيهَا أَنْهَارٌ مِنْ مَاءٍ غَيْرِ آسِنٍ وَأَنْهَارٌ مِنْ لَبَنٍ لَمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُ وَأَنْهَارٌ مِنْ خَمْرٍ لَذَّةٍ لِلشَّارِبِينَ وَأَنْهَارٌ مِنْ عَسَلٍ مُصَفًّى) محمد/١٥.

مثال د هغی جنت چې د متقیانو سره ئې وعده کړی شویده پدیکي نهرونه دي د داسی اوبو نه چې هغه بدبویه شوی نه دي، د وخت د تیریدلو د وجی نه او څه نهرونه دي د پیو (شیدو) چې د هغی خوند متغیر شوی نه دی او څه نهرونه دي د شرابو نه چې مزه ورکوي سکونکو ته، او څه نهرونه دي د خالصو ګبینو.

پدی آیت کې الله رب العالمین د څلور قسم نهرونو تذکره وکړه: د اوبو، د شیدو ـ پیو ـ د شرابو، او د ګبینو.

عن حكيم بن معاوية القشيري عن أبيه رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: «في الجنة بحر للماء وبحر للبن وبحر للعسل وبحر للخمر ثم تشقق الأنهار منها بعد».

رواه البيهقي فى البعث والنشور/٢٦٤، ورواه أحمد/٥/٥، والترمذي/٢٥٧١ وقال حسن صحيح، وحسنه الألباني فى صحيح الترغيب/٣٧٢٢.

حکیم بن معاویة القشیري د خپل پلار نه روایت کوي، هغه فرمائي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دي په جنت کې د اوبو بحر دی او بل د پیو شیدو بحر دی، او د گبینو بحر دی او د شرابو بحر دی بیا نهرونه د هغی نه روسته نور روان شوی دي.

د کوثر نهر

په جنت کې یو خاص او ځانګړی نهر دی چې هغی ته کوثر ویل کیږي قرآن کریم د هغی تذکره هم کړیده.

(إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ ، فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ، إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ)
الکوثر/١-٣.

بیشکه مونږ تا ته د کوثر نهر درکړي دی ته مونځ وکړه د خپل رب لپاره او قرباني وکړه بیشکه ستا دښمن نیست او نابود دی د هغی نسل به ختم وي.

١: عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ الله عَنْهُ، قَالَ: لَمَّا عُرِجَ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى السَّمَاءِ، قَالَ: " أَتَيْتُ عَلَى نَهَرٍ، حَافَتَاهُ قِبَابُ اللُّؤْلُؤِ مُجَوَّفًا، فَقُلْتُ: مَا هَذَا يَا جِبْرِيلُ؟ قَالَ: هَذَا الكَوْثَرُ ".
أخر جه البخاري/٤٩٦٤، ومسلم/٤٠٠.

أنس رضي الله عنه فرمائي: کله چې نبي صلی الله علیه وسلم اسمان ته وخیژول شو هغه فرمائي: زه په یو نهر باندی راغلم چې د هغی دواړو طرفونو ته د ږدکړی شوی ملغلرو نه مستدیر شکل باندی وړی وړی کوټی وي ما عرض وکړه جبریل دا څه شی دی؟ هغه وفرمائیل: دا د کوثر نهر دی.

٢: عَنْ أَنَسٍ، فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: {إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ}: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: هُوَ نَهْرٌ فِي الجَنَّةِ قَالَ: فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: رَأَيْتُ نَهْرًا فِي الجَنَّةِ حَافَّتَاهُ قِبَابُ اللُّؤْلُؤِ. قُلْتُ: مَا هَذَا يَا جِبْرِيلُ؟ قَالَ: هَذَا الكَوْثَرُ الَّذِي أَعْطَاكَهُ اللهُ.

أخرجه الترمذي/٣٣٥٩ صحيح.

أنس رضي الله عنه فرمائي: قرآن كريم كې الله جل جلاله فرمائي: إنا أعطيناک الكوثر نبي صلى الله عليه وسلم وفرمائيل: دا په جنت كې يو نهر دى بيا ئى وفرمائيل: ما په جنت كې يو نهر وليده چې د هغى دواړه طرف ته د ډډ كړى شوى ملغلرو نه ګول كوټې وى ما وويل جبريل دا څه شى دى؟ هغه وويل: دا هغه كوثر دى چې الله تا ته دركوى.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الكَوْثَرُ نَهْرٌ فِي الجَنَّةِ، حَافَّتَاهُ مِنْ ذَهَبٍ، وَمَجْرَاهُ عَلَى الدُّرِّ وَاليَاقُوتِ، تُرْبَتُهُ أَطْيَبُ مِنَ الْمِسْكِ، وَمَاؤُهُ أَحْلَى مِنَ العَسَلِ، وَأَبْيَضُ مِنَ الثَّلْجِ.

أخرجه الترمذي/ ٣٣٦١، صححه الألباني فى صحيح الجامع/ ٤٦١٥.

عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلى دي: كوثر په جنت كې يو نهر دى چې د هغى دواړه طرفونه د سرو زرو نه دي او د هغى اوبه د ملغلرو او ياقوتو باندى روانى دي، د هغه خاوره د مشكو نه زياته خوشبويه ده، او اوبه ئې د ګبينو نه زياتى خوږى دي او د واورى نه زياتى سپيني دي.

په دنیا کې جنتي نهرونه

سیحون، جیحون، نیل او فرات

د جنت د نهرونو نه بعضې نهرونه دي چې دنیا ته هم د هغې آثار راښکاره شویدي هغه دغه نهرونه دي:

۱: سیحون: چې هغه د هند بحر دی.

۲: جیحون: چې هغه د بلخ بحر دی.

۳: فرات : چې هغه د عراق بحر دی.

٤: نیل : چې هغه د مصر بحر دی.

دا څلور جنتي نهرونه دي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «سَيْحَانُ وَجَيْحَانُ، وَالْفُرَاتُ وَالنِّيلُ كُلٌّ مِنْ أَنْهَارِ الْجَنَّةِ»

أخرجه مسلم/ ۲۸۳۹.

أبو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي: سیحون، جیحون، فرات او نیل دا ټول د جنت نهرونه دي.

د جنت د نهرونو سرچینه:

لکه څرنګه چې دنیا کې نهرونه یوه سرچینه لري او د هغې نه رابهیږي، همدغه رنګه د جنت نهرونه هم سرچینه لري، او د جنت د نهرونو سرچینه جنت الفردوس دی د هغې نه د جنت ټول نهرونه رابهیږي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ. قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا سَأَلْتُمُ اللهَ، فَاسْأَلُوهُ الفِرْدَوْسَ، فَإِنَّهُ أَوْسَطُ الجَنَّةِ وَأَعْلَى الجَنَّةِ - أُرَاهُ - فَوْقَهُ عَرْشُ الرَّحْمَنِ، وَمِنْهُ تَفَجَّرُ أَنْهَارُ الجَنَّةِ».

أخرجه البخاري/٢٧٩٠.

أبـو هريـرة رضي الله عنـه فرمـائي :چې رسـول الله صـلى الله عليـه وسـلم فرمـائلی دي: کلـه چې تاسـو د الله نـه سـوال کـوي د جنـت الفردوس سـوال تـری وکـړئ ځکـه دا غـوره جنـت او أعلى د جنـت دی ددی نــه بــره د رحمــن ذات عــرش دی او ددی نــه د جنــت نهرونه رابهيږي.

د جنت نهرونه د مشکو د غرونو په لمنو کې بهيږي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:« أنهار الجنة تخرج من تحت تلال أو من تحت جبال المسك».

رواه ابن حبان/ ٤٧٠٨، وقال الألباني فی صحيح الترغيب/ ٣٧٢١ حسن صحيح.

أبـو هريـرة رضي الله عنـه فرمـائي :چې رسـول الله صـلى الله عليـه وسـلم فرمـائلی دي: د جنـت نهرونـه د مشـکو د غرونـو نـه لانـدی رابهيږي.

د جنت د نهرونو لپاره زمکه نه ده کنستل شوی:

د جنت نهرونه د دنيا د نهرونو په شان نه دي چې زمکه ورله کنستل شوی دي، بلکه د زمکې په سر باندی اوچت روان دی او الله رب العالمين په خپل قدرت بالدی د تويدلونه بند کړی دي.

عن ابن عباس أنه قيل: ما أنهار الجنة أمن أخدود؟
قال: لا ، ولكنها تجرى على أرض فى الجنة مستكفة لا تفيض ها هنا ولا ها هنا .

قال المنذري فى الترغيب/ ٥٤٨٢، رواه ابن أبى الدنيا موقوفا باسناد حسن.

د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه پوښتنه وشوه چی آیا د جنت د نهرونو لپاره زمکه کنستل شویدی ده او په جرونو کې را روانی دي هغه وفرمائیل: چی د جنت نهرونه د جنت د زمکي په سر باندی روان دي.

د تویدلو نه بندی دي د هغی اوبه أخوا دیخوا نه تویږي.

عن أنس بن مالك رضي الله عنه قال:«لعلكم تظنون أن أنهار الجنة أخدود في الأرض، لا والله، إنها لسائحة على وجه الأرض إحدى حافتيها اللؤلؤ والأخرى الياقوت وطينه المسك الأذفر قال: قلت: ما الأذفر؟ قال: الذي لا خلط له».

قال المنذري فى الترغيب/٥٤٨٤، رواه ابن أبى الدنياموقوفا ورواه غيره مرفوعا والموقوف أشبه بالصواب، وصححه الألباني فى صحيح الترغيب/ ٣٧٢٣.

أنس بن مالک رضي الله عنه فرمائي: چی کیدلئ شي چی تاسو گومان کوئ چی د جنت د نهرونو لپاره زمکه کنستل شویده؟ قسم په الله باندی داسی نه ده بلکه هغه د زمکي په سر باندی روان دي یو ظرف ته ئې ملغلري او بل طرف ته ئې یاقوت دي د هغی خاوره خالص مشک دي چی هیڅ گډون ورسره نه وي.

د جنت د خوراک سکاک لوښي

د جنت د خوراک او سکاک لوښی د سرو زرو او سپينو زرو نه جوړ شويدی او قران کريم کې الله رب العالمين ذکر کړی دي.

١: الله رب العالمين فرمائي: (يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِصِحَافٍ مِنْ ذَهَبٍ وَأَكْوَابٍ) الزخرف/ ٧١.

او ګرځولی به شي په دوي باندی د سرو زرو کاسی او جګونه.

٢: (وَيُطَافُ عَلَيْهِمْ بِآنِيَةٍ مِنْ فِضَّةٍ وَأَكْوَابٍ كَانَتْ قَوَارِيرَا ، قَوَارِيرَ مِنْ فِضَّةٍ قَدَّرُوهَا تَقْدِيرًا) الإنسان/١٥-١٦.

او ګرځولی به شي پدوي باندی لوښی د سپينو زرو او داسی جګونه چی هغه به د شيشي وي، شيشي د سپينو زرو چی أندازه کړی به ئی وي په اندازه کولو سره.

عن أبي موسى الأشعري رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: «جنتان من ذهب آنيتهما وما فيهما وجنتان من فضة آنيتهما وما فيهما».

أخرجه البخاري/ ٤٨٧٨، ومسلم/ ١٨٠.

أبو موسى الأشعري رضي الله عنه فرمائي: چی رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلی دي: دوه جنتونه د سرو زرو دي د هغی لوښی او هغه څه چی په هغی کې دي او دوه جنتونه دسپينو زرو دي د هغه لوښی او هغه څه چی په هغی کې دي.

عن حُذَيْفَةَ بن اليمان رضي الله عنه أن النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لاَ تَشْرَبُوا فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالفِضَّةِ، ولا تأكلوا في صحافها فإنَّها لَهُمْ فِي الدُّنْيَا وَلَكُمْ فِي الآخِرَةِ».

أخرجه البخاري/٥٤٢٦، ومسلم/ ٢٠٦٧.

حذيفة بن اليمان رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: تاسو د سرو زرو او سپينو زرو لوښو کې سکاک مه کوئ او د هغې په کاسو کې خوراک مه کوئ، ځکه دغه په دنيا کې د کافرانو لپاره دي او ستاسو لپاره دغه په آخرت يعنی جنت کې وي.

يو جنتي ته د سلو کسانو د خوراک او سکاک قوت

عن زيد بن أرقم رضي الله عنه قال: جاء رجل من أهل الكتاب إلى النبي صلى الله عليه وسلم فقال: يا أبا القاسم تزعم أن أهل الجنة يأكلون ويشربون؟ قال: نعم، والذي نفس محمد بيده إن أحدهم ليعطى قوة مائة رجل في الأكل والشرب والجماع قال: فإن الذي يأكل ويشرب تكون له الحاجة وليس في الجنة أذى قال: تكون حاجة أحدهم رشحا يفيض من جلودهم كرشح المسك فيضمر بطنه.

أخرجه أحمد فى مسنده/ ٣٦٧/٤، وصححه الألباني فى صحيح الترغيب/ ٣٧٣٩.

زيد بن أرقم رضي الله عنه فرمائي: چې يو سړی د أهل كتابو نه نبي صلى الله عليه وسلم ته راغلی او وي ويل: أي ابو القاسم ته وائي چې جنتيان به خوراک او سکاک کوي؟ هغه وفرمائيل : هو، قسم په هغه ذات چې د محمد صلى الله عليه وسلم نفس د هغه په لاس کې دی، بيشکه پدوي کي يو تن ته به په خوراک ، سکاک جماع او شهوت کې

د سلو کسانو طاقت ورکولی شي ، هغه وویل: هغه څوک چې خوراک او سکاک کوي د هغه لپاره خو انساني حاجت راځي او په جنت کې ګندګی نشته؟ هغه وویل: حاجت به پدی طریقه ختمیږي چې خوله به د دوي په بدن رابهیږي او هغه به د مشکو غوندی خوشبویه وي بیرته به خیټی ښکته شي او د خوراک شوق به پیدا شي.

د جنت د خوراک او سکاک هضم

دا یوه یقیني خبره ده چې د خوراک او سکاک د هضم نه ګندګی پیدا کیږي، د هغی نه بول او غائط پیدا کیږي لکن جنت د ګندګۍ ځائی نه دی هلته به ګندګی نه وي بلکه د طعام د خارج کیدو او هضم کیدو کیفیت به دا وي چې کله سړی خوراک او سکاک وکړي او طعام هضم شي دا به یو ارګمی وکړي او هغه به داسی خوشبویه وي لکه د مشکو په شان او په بدن باندی به خوله راشي هغه به هم داسی خوشبویه وي لکه د مشکو په شان او د هغی سره سره به هضم راشي او دوباره خوراک ته به شوق پیدا شي.

عن جابر رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «يأكل أهل الجنة ويشربون ولا يمتخطون، ولا يتغوطون، ولا يبولون طعامهم ذلك جشاء كريح المسك يلهمون التسبيح والتكبير كما يلهمون النفس».

أخرجه مسلم/۲۸۳۵، وفی روایة : قالوا فما بال الطعام؟ قال: جشاء ورشح کرشح المسک. ۲۸۳۵.

جابر رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلي دي: جنتيان به په جنت کې خوراک او سکاک کوي د هغوي به د پوزي گندکي او بلغم نه وي، وروکي او لوي قضاء حاجت به نه وي د هغی د طعام هضم به داسی وي چې هغوي به يو ارکمي وکړی لکه د مشکو په شان به خوشبويه وي.

په بل روايت کې داسی دي چې ارکمي بـه کـوي لکـه د مشـکو پـه شان خوشبويه او په بدن بانـدې بـه خـوله راځـي لکـه د مشـکو پـه شـان خوشـبويه هغـوي تـه د الله حمـد او ثنـاء داسی الهام کيـږي لکه د تنفس په شان.

د جنتيانو لباس

لکه څرنگه چې د جنتيانو خوراک او سکاک ډير أعلی دی همدغه رنگه د جنتيانو لباس هم ډير أعلی او قيمتي دی.

قرآن کريم ددی خبري تذکره کړيده چې د جنتيانو لباس به د وريښمو نه وي.

الله رب العالمين فرمائي: (إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ، فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ، يَلْبَسُونَ مِنْ سُنْدُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُتَقَابِلِينَ)

الدخان/۵۱-۵۳.

بيشـکه متقيـان بـه د أمـن پـه مقـامونو کـې وي پـه جنتونـو او چينـو کـې او اغوسـتلی بـه شي دوی تـه لبـاس د نـرو او پيـرو ريښمو يو بل ته به مخامخ وي.

۲: (وَيَلْبَسُونَ ثِيَابًا خُضْرًا مِنْ سُنْدُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُتَّكِئِينَ فِيهَا عَلَى الْأَرَائِكِ) الكهف/۳۱.

او اغوندي به دا جنتيان شنې کپړې د نرو او پيړو ريښمو نه دوی به پدې جنت کې په تختونو باندې تکيا لګولې وي.

۳: (وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ) الحج/۲۳.

او د جنتيانو لباس به پدې جنت کې ريښم وي.

٤: (عَالِيَهُمْ ثِيَابُ سُنْدُسٍ خُضْرٌ وَإِسْتَبْرَقٌ) الإنسان/۲۱.

ښکاره د بره نه به په دوي باندې لباس د شنو نرو او د پيړو ريښمو وي.

د جنتيانو کپړې به نه زړيږي

لکه څرنګه چې د جنت د کپړو خصوصيت دا دی چې دا د نرو او پيړو ريښمو نه جوړي دي همدغه رنګه د هغې خصوصيت دا دی چې دا نه زړيږي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ يَنْعَمُ لَا يَبْأَسُ، لَا تَبْلَى ثِيَابُهُ وَلَا يَفْنَى شَبَابُهُ» أخرجه مسلم/ ۲۸۳٦.

أبو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې جنت ته داخل شي هغه به په ښکلي زندګۍ کې وي په هغه به غم نه راځي د هغه کپړې به نه زړيږي او د هغه ځواني به نه ختميږي.

د جنتيانو کپړې د طوبى ونې نه راوځي

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه قال: قال رَسُولِ اللهِ صَلى الله عَليه وسَلم:« طُوبَى شَجَرَةٌ فِي الْجَنَّةِ مَسِيرَةُ مِئَةِ عَامٍ ثِيَابُ أَهْلِ الْجَنَّةِ تَخْرُجُ مِنْ أَكْمَامِهَا».

أخرجه أحمد/ ١١٦٧٣، حسنه الألباني فى الصحيحة /١٩٨٥، وصحيح الجامع/٣٩١٨.

أبو سعيد الخدري رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: طوبې په جنت کې يوه ونه ده چې د هغې په سورې کې سل کاله مزل کيږي د جنتيانو کپړې د هغې د کسورو نه راووځي.

د جنتيانو لپاره تاج

دا يوه معلومه خبره ده چې تاج د بادشاهانو لباس دی او الله رب العالمين جنتيانو ته په جنت کې بادشاهت ورکوي.

لکه چې په قرآن کريم کې الله رب العالمين فرمائي: (وَإِذَا رَأَيْتَ ثَمَّ رَأَيْتَ نَعِيمًا وَمُلْكًا كَبِيرًا) الإنسان/٢٠.

او کله چې ته ووينې هلته وبه وينې نعمتونه او لويه بادشاهي.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ الله عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَلَا قَوْلَ الله عَزَّ وَجَلَّ: {جَنَّاتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ} (فاطر/٣٣) فَقَالَ: «إِنَّ عَلَيْهِمُ التِّيجَانَ إِنَّ أَدْنَى لُؤْلُؤَةٍ مِنْهَا لَتُضِيءُ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ».

أخرجه الترمذي/٢٥٦٢، والحاكم/ ٤٢٦/٢، وصححه ووافقه الذهبي وضعفه الألباني فى ضعيف الجامع/١٨٨٢.

أبو سعيد الخدري رضي الله عنه فرمائي: چې نبي صلى الله عليه وسلم دا آيت ولوستلو چې (جنات عَدْنٍ يَدْخُلونَهَا يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَساوِرَ مِن ذَهَبٍ) د دوی لپاره به د هميشوالی جنتونه وي ، چې دوی به هغې نه داخليږي دوی ته به په هغې کې زيورات ورکولی شي بنګړي د سرو زرو نبي صلى الله عليه وسلم وفرمائيل: بيشکه داسی تاجونه ورپه سر کولی شي چې أدنی ملغلره به د دی نه د مشرق او مغرب تر منځ فضاء روښانه کوي.

د شهيد لپاره تاج

عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِ يكَرِبَ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لِلشَّهِيدِ عِنْدَ اللهِ سِتُّ خِصَالٍ: يَغْفِرُ لَهُ فِي أَوَّلِ دُفْعَةٍ مِنْ دَمِهِ، وَيُرَى مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ، وَيُجَارُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَيَأْمَنُ مِنَ الْفَزَعِ الْأَكْبَرِ، وَيُحَلَّى حُلَّةَ الْإِيمَانِ، وَيُزَوَّجُ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ، وَيُشَفَّعُ فِي سَبْعِينَ إِنْسَانًا مِنْ أَقَارِبِهِ ".

أخرجه الترمذي/١٦٦٣، وابن ماجة /٢٧٩٩، وأحمد/١٧١٨٢، صححه الألباني فى صحيح الجامع/٥١٨٢.

مقدام بن معد يکرب رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلی دي: د شهيد لپاره شپږ انعامات دي، هغه ته دويني د اولنی څاڅکي سره بخښنه کيدلی شي، او هغه په جنت کې خپل ځائی ويني د عذاب قبر نه په أمن کې کيږي، د لوي ويری نه په أمن کې کيږي، د عزت تاج هغه ته په سر باندی کيښودلی شي چې د

هغې يوه ملغلره ددنيا او څه چې په دنيا کې دي د هغه نه غوره ده او هغه ته د ښکلو غټو سترګو والا دوه اويا حوري په نکاح کولی شي د اويا کسانو خپلوانو په باره کې ئې شفاعت قبليږي.

د جنتيانو فرشونه

په جنت کې د جنتيانو لپاره فرشونه بستري، قالين، څادري او داسې نور قسمونه لباسونه شته دی چې قرآن کريم هغه ذکر کړی دي.

۱: الله عزوجل فرمائي: (مُتَّكِئِينَ عَلَى فُرُشٍ بَطَائِنُهَا مِنْ إِسْتَبْرَقٍ) الرحمن/ ۵۴.

دی جنتيانو به پداسې فرشونو باندی تکيا لګولی وي چې د هغې لاندی طرف به د پيړو ريښمو نه وي.

او پدی آيت کې الله رب العالمين د لاندی طرف خبر ورکړو او حال دا ده چې بره طرف د لاندی طرف نه ډير ښائسته او ډولی وي چې لاندی طرف ئې د ريښمو نه دی څه مو خيال دی چې بره طرف به څومره ښکلی او ډولی وي.

۲: قرآن کريم کې الله رب العالمين فرمائي: (وَفُرُشٍ مَرْفُوعَةٍ) الواقعة/۳۴.

او داسې فرشونه به وي چې هغه اوچت شوی دي.

۳: (مُتَّكِئِينَ عَلَى رَفْرَفٍ خُضْرٍ وَعَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ) الرحمن/۷٦.

دی جنتيانو به تکيا لګولی وي په شنو بالښتونو باندی او قالين ښائسته.

د جنتيانو لپاره تختونه

لکه څرنګه چې د جنتيانو لپاره أعلی فرشونه او قالين شته دی همدغه رنګه د جنتيانو لپاره تختونه دي چې په هغې باندی تکيا وهلي وي.

۱: (مُتَّكِئِينَ عَلَى سُرُرٍ مَصْفُوفَةٍ وَزَوَّجْنَاهُمْ بِحُورٍ عِينٍ) الطور/ ۲۰.

او مونږه به دوي ته په نکاح کړو د غټو سترګو والا حوري.

۲: الله عزوجل فرمائي: (ثُلَّةٌ مِنَ الْأَوَّلِينَ ، وَقَلِيلٌ مِنَ الْآخِرِينَ ، عَلَى سُرُرٍ مَوْضُونَةٍ ، مُتَّكِئِينَ عَلَيْهَا مُتَقَابِلِينَ) الواقعة/۱۳-۱٦.

يوه ډله به د اولنو نه وي او لږ کسان به د روستنو نه، ناست به وي پداسی تختونو باندی چې تکيا لګونکی به وي په هغه باندی او مخامخ به ناست وي يو بل ته .

۳: قرآن کريم کې الله رب العالمين فرمائي: (مُتَّكِئِينَ فِيهَا عَلَى الْأَرَائِكِ) الإنسان/۱۳.

دوی به تکيا لګونکی وي په تختونو باندی.

٤: (هُمْ وَأَزْوَاجُهُمْ فِي ظِلَالٍ عَلَى الْأَرَائِكِ مُتَّكِئُونَ) يس/ ٥٦.

دوی او ببياني د دوي به تختونو باندی وي او تکيا وهونکی به وي.

٥: (مُتَّكِئِينَ فِيهَا عَلَى الْأَرَائِكِ لَا يَرَوْنَ فِيهَا شَمْسًا وَلَا زَمْهَرِيرًا) الإنسان/ ۱۳.

دوی به تکيا لګونکی وي په تختونو باندی چې په هغی ک به لمر او يخني نه ويني.

٦: (عَلَى الْأَرَائِكِ يَنْظُرُونَ) المطففين/٢٣.

په تختونو باندی به وي يو بل ته به ګوري.

إمام ابن القيم رحمه الله د أريکة تفسير فرمائي: دری څيزونه چی موجود شي هغی ته ويل کيږي.

يو تخت وي، دويم هغه څادر او ډولۍ چی د ناوي په تخت باندی رازوړندولی شي، دريم هغه فراش چی هغه په کټ باندی وي.

د جنتيانو ببياني

قرآن کريم د جنت په نعمتونو کې يو أعلى نعمت دا ذکر کوي چی په جنت کې د جنتيانو لپاره ببياني وي او بيا ئې د هغی د ببيانو لپاره بهترين صفات ذکر کړيدي.

الله رب العالمين فرمائي: (وَلَهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُطَهَّرَةٌ وَهُمْ فِيهَا خَالِدُونَ) البقرة/٢٥.

او دی جنتيانو لپاره به په جنت کې ببياني وي پاکي کړی شوي د هر عيب نه او دوی به په جنت کې هميشه وي.

د مطهرة تفسير:

مفسرين د مطهرة په تفسير کی فرمائي:

١: قال عبدالله بن مسعود وعبدالله بن عباس لا يحضن ولا يحدثن، ولا يتنخمن. أخرجه ابن جرير فی تفسيره/١/٧٥.

چی د جنت ببياني پاکی کړی شويدي.

يعنی په هغوي باندی ماهواره بيماری نه راځي ېی اودسی ورباندی نه راځي، او د پوزي ګندکی ئې نشته دی.

٢: قال ابن عباس مطهرة من القذر والأذى.

تفسير ابن جرير/ ٧٥/١.

ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي: دوى به پاک کړى شوي وي د ګندګئ او هر هغه څيز نه چې د هغې نه نفرت کيدلی شي.

٣: قال مجاهد : لا يبلن ، ولا يتغوطن، ولا يمذين، ولا يمنين، ولا يحضن ، ولا يبصقن، ولا يتنخمن ، ولا يلدن.

تفسير ابن جرير/١/١٧٥.

إمام مجاهد رحمه الله فرمائي:

د جنت ببياني ورڅوکې حاجت نه لري، لوي قضاء حاجت نه لري، مذى تري نه خارجيږي ،منى ترى نه خارجيږي، ماهوارى بيماري ورباندى نه راځي ، توکاني نه غورځوي، د پوزى ګندګى ئې نه وي، بچيان ئې نه پيدا کيږي.

٤: قال قتادة : مطهرة من الاثم والأذى طهرهن الله من كل بول وغائط وقذر ومأثم. أخرجه ابن جرير فى تفسيره/١/١٧٥.

قتادة رحمه الله فرمائي: مطهرة معنى ده چې د جنت ببياني د ګناه نه هم پاکي دي او د ګندګى نه هم پاکي دي.

الله د ورڅوکى او لوي قضاء حاجت نه پاک کړي دي ، او همدغه رنګه د هرى ګندګى او ګناه نه الله پاکي کړى دي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَوَّلُ زُمْرَةٍ تَلِجُ الجَنَّةَ صُورَتُهُمْ عَلَى صُورَةِ القَمَرِ لَيْلَةَ البَدْرِ، لاَ

يَبْصُقُونَ فِيهَا، وَلاَ يَمْتَخِطُونَ، وَلاَ يَتَغَوَّطُونَ، آنِيَتُهُمْ فِيهَا الذَّهَبُ، أَمْشَاطُهُمْ مِنَ الذَّهَبِ وَالفِضَّةِ، وَمَجَامِرُهُمُ الأَلُوَّةُ، وَرَشْحُهُمُ المِسْكُ، وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ، يُرَى مُخُّ سُوقِهِمَا مِنْ وَرَاءِ اللَّحْمِ مِنَ الحُسْنِ، لاَ اخْتِلاَفَ بَيْنَهُمْ وَلاَ تَبَاغُضَ، قُلُوبُهُمْ قَلْبٌ وَاحِدٌ، يُسَبِّحُونَ اللهَ بُكْرَةً وَعَشِيًّا».

أخرجه البخاري/ ۳۲۴۵، ومسلم/ ۲۸۳۴.

أبو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: اولنۍ ډله چې جنت ته داخليږي د هغوي شکلونه به د څوارلسمي سپوږمۍ په شان ډولی او چمکدار وي.

هغوی به توکاني نه لري، د پوزې گندگی به ئي نه وي، قضاء حاجت به نه لري، د هغوي لوښی به د سرو زرو نه وي، د هغوي گمنزي به د سرو زرو او سپینو زرو نه وي.

او د هغوي د خوشبو لوگی بليدونکی به د خوشبويه عود لرگی وي.

دهغوي خوله به د مشکو په شان خوشبويه وي، د هر يو کس لپاره به دوه ببياني وي چې د هغوي د پنډو ماغزه به د ښکلا د وجی نه د غوښی نه اخوا ښکاري.

د هغوي تر منځ به د يو بل سره بغض نه وي د يوه زړه په شان به وي، سبائي او بيګائی به د الله تسبيح وائي.

د حورو بیان

لکه څرنګه چې په جنت کې د دنیا د ښځو نه ښیاني دي همدغه رنګه د جنتیانو لپاره حورې هم دي چې قرآن او سنت د هغې بیان کړی دی.

الله رب العالمین فرمائي: (كَذَٰلِكَ وَزَوَّجْنَاهُمْ بِحُورٍ عِينٍ)

الدخان/ ۵۴.

او همدغه رنګه مونږه دوی له جوړه کړی دي په حورو باندې چې هغه د ښکلو او مزیدارو سترګو والا دي.

د حور معنی:

حور د لغت عربۍ یوه کلمه ده چې جمع ده د حوراء.

دا هغې زنانه ته ویل کیږي چې ځوانه وي ډېره جمال او حسن والا وي رنګ ئې سپین وي او د سترګو تور والی ئې ډیر تور وي.

۲: قال زيد بن أسلم : الحوراء التي يحار الطرف فيها.

۳: وقال مجاهد: الحواء التى يحار الطرف فيها من رقة الجلد وصفاء للسوق.

حوراء دیته ویل کیږي، چې د څرمن د باریکي او د رنګ د صفائی د وجې نه وریکی نظر حیرانیږي.

٤: قال الحسن: الحوراء شديدة بياض العين شديدة سواد العين.

حسن رحمه الله فرمائي: حوراء هغې زنانه ته ویل کیږي چې د سترګو سپین ئې تک سپین وي او د سترګو تور ئې تک تور وي.

۵: إمام مجاهد رحمه الله فرمائي: حور العين هغه ته ويل کيږي چې په هغې کې سترګې او د هغې نظر حيرانيږي د هغې د پنډو مغز د کپړو نه اخوا ښکاري.

او د شيشي په شان د هغه په بدن کې سرې خپل مخ ويني.

حادى الأرواح/ ۲۸۵ ، تفسير ابن جرير.

د حورو صفات:

قرآن او سنت د حورو صفات ذکر کړی دي:

۱: ددغې حورو سترګې ډيرې ښکلې او ښائسته دي.

قرآن کريم ددغې حورو د سترګو تذکره کوي او فرمائي چې:

۱: (وَزَوَّجْنَاهُمْ بِحُورٍ عِينٍ) الدخان/۵۴.

۲: (وَحُورٌ عِينٌ) الواقعة / ۲۲.

عين ـ د عيناء جمع ده هغې زنانو ته ويل کيږي چې غټې سترګې ئې وي.

قال مقاتل: العين حسان الأعين. حادى الأرواح/۲۸۶.

مقاتل رحمه الله فرمائي: عين هغې زنانو ته ويل کيږي چې د هغې سترګې ډولې او ښکلې وي.

قاصرات الطرف:

قرآن کريم ددغې حورو په صفاتو کې ذکر کوي قاصرات الطرف:

۱: (فِيهِنَّ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ) الرحمن/۵۶.

۲: (وَعِنْدَهُمْ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ عِينٌ) الصافات/۴۸.

۳: (وَعِنْدَهُمْ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ أَتْرَابٌ)ص/ ۵۲.

قاصرات الطرف ديته ويل کيږي چې خپل نظرونه ئې په خپل خاوند باندې بند کړي وي د خاوندانو نه علاوه بل چا ته نه ګوري، او دا په زنانه کې سخت نقصان دی چې د خپل خاوند نه علاوه بل چا ته ګوري.

دويم: د قاصرات الطرف معنی دا ده چې الله رب العالمين دی حورو ته داسې ښکلا ورکړي ده چې هغه خپل د خاوند نظر په خپل ځان باندې بندوي چې يو کرتی خاوند دی ته وګوري بيا به بل طرف ته نه ګوري.
حادی الأرواح/۲۸۷.

۱: عن مجاهد في قوله : «قاصرات الطرف» يقول: قاصرات الطرف على أزواجهن فلا يبغين غير أزواجهن.

ترجمه: خپل خاوند باندې به ئي نظر بند کړی وی د خاوندانو نه علاوه بل چاته نه ګوري.

۲: قال الحسن : قاصرات الطرف: قصرن طرفهن على أزواجهن فلا يبغين غير أزواجهن.

ترجمه: خپل خاوند باندې به ئي نظر بند کړی وی د خاوندانو نه علاوه بل چاته نه ګوري.

أتراب:

د جنت حورو په صفاتو کې يو صفت ذکر کيږي «أتراب»
دا أتراب يوه معنی ده چې دوی به امزولی وي يعنی د دوی عمر به يو بل ته نژدې او مساوي وي.

۱: قال أبو عبيدة وأبو اسحاق: أقران أسنانهن واحدة.

۲: قال ابن عباس وسائر المفسرين: مستويات على سن واحد وميلاد واحد.

۳: د أتراب دويم معنى ده هم مثل:

قال مجاهد : أتراب: أمثال.

قال أبو اسحاق: أي هن في غاية الشباب والحسن.

(لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ) الرحمن/٥٦.

الله رب العالمين ددغې حورو په صفت کې دا بيان کړی دی چې هغې ته دوی مخکې نه إنسان او نه پيري ورسيدلی دی په جماع کولو سره.

۱: قال مجاهد: لم تمسهن.

تفسير الطبري/۱۰/۵۷۸.

إمام مجاهد رحمه الله د لم يطمثهن په تفسير کې فرمائي: چې دوي ته انسان او پيری د دوی نه مخکې نه دی وررسيدلی په جماع کولو سره .

۲ ابن عباس رضي الله عنهما ددی آيت په تفسير کې فرمائي: چې دوی لره ددی نه مخکې انسان او نه پيری ويني کړی دي.

۳: عن عكرمة قال: الطمث: الجماع. تفسير الطبري /۱۰/۵۷۸.

عکرمة رحمه الله فرمائي: طمث جماع کولو ته ويل کيږي.

(كَأَنَّهُنَّ الْيَاقُوتُ وَالْمَرْجَانُ) الرحمن/٥٨.

ګويا که چې دوی ياقوت او مرجان دي.

يعنې د دغې حورو صفائي او شفاف والی داسې دی لکه ياقوت او مرجان .

قال ابن مسعود رضي الله عنه (إن المرأة من أهل الجنة لتلبس سبعين حلة حرير يرى بياض ساقها وحسن ساقها من ورائهن ذلكم بأن الله يقول: كأنهن الياقوت والمرجان إلا وإنما الياقوت حجر فلو جعلت فيه سلكا ثم استصفيته لنظرت إلى السلک من وراء الحجر)

أخرجه الطبري في تفسيره / ۵۷۹/۱۰ ، رقم /۳۳۲۱۳.

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائي: بيشکه يوه حوره د جنت والا د حورو نه به د ريښمو اويا جوړي اغوندی او په هغی کې به ددغی حوري د پنډو سپينوالی او ښکلا ددغی اويا جوړو نه اخوا ښکاري.

ځکه الله رب العالمين فرمائي: چی دوي د ياقوت او مرجان په شان دي.

ځکه ياقوت شفاف ګټه ده که ته پديکي مزی يعنی تار داخل کړی هغه د بهر نه ښکاري.

۲: همدغه رنګه تفسير د عمرو بن ميمون نه هم نقل کړی شويدي.

تفسير الطبري/۵۸۰/۱۰.

۳: عن الحسن قال: صفاء الياقوت في بياض المرجان.

تفسير الطبري/ ۵۸۰/۱۰.

حسن رحمه الله ددغی آيت په تفسير کې فرمائي:چی ددغی حورو صفائي به د ياقوت په شان وي او د هغی سپينوالی د مرجان په شان وي، همدغه رنګه قول د نورو مفسريو نه هم نقل شويدی.

تفسير الطبري/۵۸۰/۱۰.

(خَيْرَاتٌ حِسَانٌ) الرحمن/ ۷۰.

الله رب العالمين ددغې حورو په صفاتو کې دا بیانوي.

قال قتادة خيرات الأخلاق حسان الوجوه. تفسير الطبري.

قتادة رحمه الله د خيرات حسان تفسير کوي او فرمائي: د بهترينو أخلاقو والا او د ښائسته مخونو والا دي.

(حُورٌ مَقْصُورَاتٌ فِي الْخِيَامِ) الرحمن/ ۷۲.

داسې حوري به وي چې هغه به خيمو کې بندي کړی شوی وي.

قال مجاهد: قصرن طرفهن وأنفسهن على أزواجهن.

تفسير الطبري/۱۰/۵۸۸.

إمام مجاهد رحمه الله فرمائي: دی حورو خپل نظرونه او خپل ځانونه په خپلو خاوندانو بند کړی دي.

او همدغه رنګه تفسير د ربيع رحمه الله نه هم وارد کړی شويدي.

(إِنَّا أَنْشَأْنَاهُنَّ إِنْشَاءً ، فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا ، عُرُبًا أَتْرَابًا ، لِأَصْحَابِ الْيَمِينِ) الواقعة / ۳۵-۳۸.

قرآن کريم کې الله رب العالمين د حورو په صفت کې فرمائي: بیشکه مونږه پیدا کړی دي دوي په پیدا کولو سره پس مونږه کرځولی دي دوی لره باکری جينکۍ ،دوی به خپلو خاوندانو ته محبوب وي او أمزولی به وي.

عن ابن عباس: عربا عواتق. تفسير الطبري/ ۱۰/ ٦۲٥.

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما د «عربا» معنى کوي چې دا به په خپلو خاوندانو عاشقان وی.

عن ابن عباس: عرب المتحببات المتوددات إلى أزواجهن.
تفسير الطبري/ ١٠/٦٢٥.

ابن عباس رضي الله عنهما معنی کوي چې دوي به خپلو خاوندانو سره مينه لرونکي وي.

عن عكرمة: العرب الغَنِجَة.

عكرمة معنی کوي چې دوي به ناز کونکې وي او په سترګو کې به ئي حسن او ډول وي. تفسير الطبرى.

عن تميم بن حذلم: العربة الحسنة التَّبَعُّلِ. تفسير الطبري.

تميم بن حذلم ئي معنی کوي چې د خپلو خاوندانو سره په ښه انداز کې کور کوي، او ښه طريقي سره د هغه ښه طاعت کوي.

(وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا) النبأ/٣٢.

داسې جينکۍ به وي چې د هغی سيني به ابتدائي راټوکيدلی وي، او أمزولی به وي.

قال ابن القيم رحمه الله:

والمراد أن ثديهن نواهد كالرمان ليس تدلية إلى الأسفل.
حادى الأرواح/ ٢٩٥.

دی لفظ مطلب دا دی چې هغوي سيني به د أنار په شان ګول او ګردي وي هغه به ښکته رازوړندی شوی نه وي.

د جنت د حورو خوشبوي او چمک

عَنْ أَنَسِ بن مالک أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَغَدْوَةٌ فِي سَبِيلِ اللهِ، أَوْ رَوْحَةٌ، خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا، وَلَقَابُ قَوْسِ أَحَدِكُمْ، أَوْ مَوْضِعُ يَدِهِ يعنى سوطه من الجَنَّةِ، خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا، وَلَوْ اطَّلَعَتْ امْرَأَة مِنْ نِسَاءِ أَهْلِ الجَنَّةِ إِلَى الأَرْضِ لَمَلأَتْ مَا بَيْنَهُمَا رِيحًا، ولأضاءت مابينها وَلَنَصِيفُهَا عَلَى رَأْسِهَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا.

أخرجه البخاري/٢٧٩٦، ومسلم/١٨٨٠.

أنس بن مالک رضي الله عنه فرمائي: یو سبائی یا بیګائی مزل د الله په لار کې د ټولې دنیا او څه چې په دنیا کې دي د هغې نه بهتر دي، ستاسو د یو تن د لیندۍ د موټې په مقدار ځائی په جنت کې او یا د یو کوړې په مقدار ځائی په جنت کې د دنیا او څه چې په دنیا کې دي د هغې نه بهتر دي، که د جنت د زنانو نه یوه زنانه دنیا ته راښکاره شي دا ټوله دنیا به په خوشبوئي خوشبویه کړي، او دا ټوله دنیا به روښانه کړي ، د حورې په سر باندې چې کومه لوپټه ده هغه د دنیا او څه چې په دنیا کې دي د هغې نه غوره او بهتره ده.

د جنت د ببیا نو لپاره اویا جوړې

عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم: « للرَّجُلِ من أهل الجنة زَوْجَتَانِ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ على كل واحدة سبعون حلة يُرَى مُخُّ سُوقِهِا مِنْ وَرَاءِ الثياب».

أخرجه أحمد/ ٣٤٥/٢.

أبو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: د يو جنتي لپاره د ښکلې او غټو سترګو والا حورو نه دوه ببيانې وي چې په هر يو باندې به اويا جوړې وي د هغې د پنډو ماغزه به د کپړو نه أخوا ښکاري.

د جنتي إنسان قوت او په جنت کې کوروالی

عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: يُعْطَى الْمُؤْمِنُ فِي الجَنَّةِ قُوَّةَ كَذَا وَكَذَا مِنَ الجِمَاعِ، قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ أَوَ يُطِيقُ ذَلِكَ؟ قَالَ: يُعْطَى قُوَّةَ مِائَةٍ.

أخرجه الترمذي/ ٢٥٣٦، صححه الألباني في صحيح الجامع/ ٨١٠٦.

أنس بن مالک رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي: مؤمن ته به په جنت کې د دومره دومره د جماع قوت ورکول کيږي، د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وشوه چې د دومره جماع طاقت به لري؟ هغه وفرمائل: هغه ته به د سلو کسانو قوت ورکولی شي.

٢: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، قَالَ : قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ ، هَلْ نَصِلُ إِلَى نِسَائِنَا فِي الْجَنَّةِ ؟ فَقَالَ : إِنَّ الرَّجُلَ لَيَصِلُ فِي الْيَوْمِ إِلَى مِائَةِ عَذْرَاءَ».

أخرجه أبو نعيم في صفة الجنة /٣٧٣، وصححه الألباني في الصحيحة/ ٣٦٧.

أبو هريرة رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمائي : د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وشوه آيا مونږه به په جنت کې د خپلو ببيانو سره يو ځائي کيږو؟

هغه وفرمائيل: بيشکه يو جنتي به په ورځ کې د سلو پيغلو سره يو ځائی کيږي او د هغی سره به کور والی کوي.

۳: عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قيل يا رسول الله أنفضي إلى نسائنا في الجنة كما نفضى إليهن فى الدنيا؟ قال: والذي نفس محمد بيده إن الرجل ليفضي في الغداة الواحدة إلى مائة عذراء.

أخرجه أبو نعيم فى صفة الجنة/ ۳۷۴، والبيهقي فى البعث/ ۴۰۴ وأبو يعلى فى مسنده/ ۲۴۳۶ وذكره الهيثمي فى المجمع/ ۱۰/ ۴۱٦ وقال فيه زيد بن أبي الحواري وقد وثق على ضعف وبقية رجاله ثقات وقال محققه الأعظمي وله شاهد فى حديث أبى هريرة عند البزار بإسناد جيد.

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمائي: چی د نبي عليه السلام نه پوښتنه وشوه چی آيا مونږ به جنت کې د ښځو سره داسی کوروالی کوو لکه څرنګه چې په دنيا کې کوو؟

هغه وفرمائل: قسم په هغه ذات چی د محمد صلى الله عليه وسلم روح د هغه په لاس کې دی. بيشکه يو سړی به په جنت کې په يو ورځ کې د سلو جينکو سره کوروالی کوي.

عن أبي هريرة رضي الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم أنه قال: يا رسول الله أنطأ فى الجنة؟ قال: نعم، والذى نفسي بيده دحماً دحماً، فإذا قام عنها رجعت مهطرة بكرا.

أخرجه ابن حبان/۲٦۳۳، والضياء فى صفة الجنة/۸۳/۱، حسنه الألباني فى التعليقات الحسان/۷۳۵۹.

الدحم: الوطء بدفع وازعاج.

أبو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وشوه چې يا رسو الله آيا مونږه به په جنت کې کوروالى کوو، هغه وفرمائل: په هغه ذات مې دې قسم وي چې زما نفس د هغه په لاس کې دى په سخت او شديد کور والى باندى به کوروالى کوى.

عن أبي أمامة قال:سئل رسول الله صى الله عليه وسلم: «هل يتناكح أهل الجنة ؟ قال: نعم بذكر لا يمل وشهوة لا تنقطع دحاماً دحاماً».

أخرجه أبو نعيم فى صفة الجنة /٣٦٨، رالطبراني فى الكبير/ ١٨٧/٨ /٧٦٧٤/ ١٨٨، أورده الألباني فى الصحيحة تحت رقم/ ٣٣٥١.

أبو أمامة رضي الله عنه فرمائي : چې رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وشوه چې آيا د جنت والا به نكاح كوي؟

هغه وفرمائيل: هو په داسى أندام مخصوصه سره چې هغه نه سستيږي، او په داسى شهوة سره چې هغه نه ختميږي، تاسو به سخت او شديد كوروالى سره كوروالى كوئ.

د ډيرو مفسرينو د قرآن كريم ددى آيت د تفسير په باره كې چې الله رب العالمين فرمائي: (إِنَّ أَصْحَابَ الْجَنَّةِ الْيَوْمَ فِي شُغُلٍ فَاكِهُونَ) يس/٥٥.

بيشكه د جنت والا به په مشغولتيا كې وى او خوندونه به اخلى مزى به كوي دوى به په باره كې نقل شوي دي چې د هغوى شغل به دا وي چې د خپلو ببيانو سره به كوروالى كوي او د پيغلو جينكو مهرونه او بكارتونه به ماتوي.

لکه چې دا تفسیر د عکرمه، عبدالله بن مسعود، ابن عباس رضي الله عنهم إمام اوزاعی رحمه الله مقاتل وغیره نه نقل شویدي.

تفسير ابن جرير الطبري/١٧/٢٣، أبو نعيم فى صفة الجنة /٣٧٥، الزهد لابن المبارك: ١٥٨٦، والبيهقي فى البعث /٤٠١.

د جنت د حورو شعرونه او سندري

عن ابن عمر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "إن أزواج الجنة ليغنين أزواجهن بأحسن أصوات سمعها أحد قط، إن مما يغنين: نحن الخيرات الحسان، أزواج قوم كرام. ينظرن بقرة أعيان. وإن مما يغننين به: نحن الخالدات فلا نمتنه، نحن الآمنات فلا يخفنه، نحن المقيمات فلا يظعنه".

رواه الطبراني فى الصغير/ ٢٥٩/١-٢٦٠، قال الهيثمي فى المجمع/ ٤١٩/١٠ رجاله رجال الصحيح ، صححه الألباني فى صحيح المجامع/ ٥١٦١.

ابن عمر رضي الله عنهما فرمائي: چی رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلی دي: بيشكه د جنتيانو ببيانی به خپلو خاوندانو ته پداسی ښائسته آواز باندی سندری او شعرونه وائي چی دغه رنګه اواز هیچا نه دی اوریدلی.

د هغوی شعرونه او سندری به داسی وي:

مونږه همیشه پاتی کیدونکی یو مونږه نه مری کیږو، مونږه په امن کې یو مونږه نه ویریږو، مونږه همیشه اوسیدلو والا یو مونږه کوچ نه کوو او ددی جنت نه رحلت نه کوو.

عن أنس بن مالك رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «إن الحور في الجنة يغنين يقلن نحن الحور الحسان هدينا لأزواج كرام».

قال الهيثمي فى المجمع/ ۴۱۹/۱۰ رواه الطبراني فى الأوسط ورجاله ونفوا ، وقال الألباني صحيح لغيره، صحيح الترغيب/ ۳۷۵۰.

أنس بن مالك رضي الله عنه فرمائي: چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي: بیشکه په جنت کې به حوري داسې سندري وائي: مونږه ښائسته حوري یو عزتمندو خاوندانو لپاره ناوي کړی شوی یو.

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: "إنَّ في الجَنَّةِ نَهَرًا طُولَ الجَنَّةِ، حافَّتاهُ العَذارى قِيامٌ مُتقابِلاتٌ، ويُغَنِّينَ بأحسَنِ أصواتٍ يَسمَعُها الخَلائِقُ، حتى ما يَرَونَ أنَّ في الجَنَّةِ لَذَّةً مِثلَها، قُلنا: يا أبا هُرَيرَةَ، وما ذلك الغِناءُ؟ قال: «إنْ شاءَ اللهُ التَّسبيحُ، والتَّحميدُ، والتَّقديسُ، وثَناءٌ على الرَّبِّ عزَّ وجلَّ».

رواه البيهقي فى البعث والنشور/ ۴۲۵، قال الألباني صحيح موقوف/ ۳۷۵۱.

ترجمه: د ابوهرير رضی الله عنه وایي: یقینا په جنت کې یو نهر دی د جنت د اوږدوالی په اندازه او ددی نهر دواړو طرفونه ته به پیغلی جینکۍ یو بل ته مخامخ ولاړی وی او دوی به په ډیر ښایسته اواز باندی سندري وایي ټول جنتیان به یې اوری تردی چې په جنت کی به ددی پشان بل خوند او لذت نه وی، بیا د ابو هریرة نه تپوس وشو چې دا سندری څه شی دی؟ هغه وویل: إن شاء الله، او تسبیح او ثناء او پاکی په الله تعالی باندی وېل.

د جنت بازار

۱: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَسُوقًا، يَأْتُونَهَا كُلَّ جُمُعَةٍ، فَتَهُبُّ رِيحُ الشَّمَالِ فَتَحْثُو فِي وُجُوهِهِمْ وَثِيَابِهِمْ، فَيَزْدَادُونَ حُسْنًا وَجَمَالًا، فَيَرْجِعُونَ إِلَى أَهْلِيهِمْ وَقَدِ ازْدَادُوا حُسْنًا وَجَمَالًا، فَيَقُولُ لَهُمْ أَهْلُوهُمْ: وَاللهِ لَقَدِ ازْدَدْتُمْ بَعْدَنَا حُسْنًا وَجَمَالًا، فَيَقُولُونَ: وَأَنْتُمْ، وَاللهِ لَقَدِ ازْدَدْتُمْ بَعْدَنَا حُسْنًا وَجَمَالًا ".

أخرجه أحمد/٢٨٤/٣، ومسلم/٢٨٣٣.

أنس بن مالک رضي الله عنه فرمائي: چې نبی صلی الله علیه وسلم فرمائلی دي: بیشکه په جنت کې يو بازار دی چې جنتیان به ورته د هرې جمعې په ورځ راځي په هغې کې به د شمال باد الوزي، چې دغه باد به د دوي په مخونو او کپړو باندې خوشبوي او د ښکلا اسباب شيندي چې د هغې سره به دوي نور هم زیات ښائسته شي، هغوی به خپل أهل ته بیرته واپس شي او د هغوي حسن او جمال به زیات شوی وي د دوي أهل به دوی ته وائي: قسم په الله باندې ستاسو حسن او جمال خو نور هم زیات شوی دی دوی به ورته وائي: قسم په الله باندې ستاسو حسن او جمال هم زیات شوی دی.

۲: عن أنس بن مالك رضي الله عنه قال: «يقول أهل الجنة انطلقوا إلى السوق فينطلقون إلى كثبان المسك فإذا رجعوا إلى أزواجهم قالوا إنا

لنجد لكن ريحا ما كانت لكن قال فيقلن ولقد رجعتم بريح ما كانت لكم إذ خرجتم من عندنا».

رواه ابن المبارك فى زيادات الزهد/ ص ۷۰، قال المنذري فى الترغيب/ ۵۵۳۶، رواه ابن أبى الدنيا موقوف باسناد جيد، وقال الألباني فى صحيح الترغيب/ ۳۷۵۳ صحيح.

أنس بن مالك رضي الله عنه فرمائي: چې جنتيان به خپل منځ کې يو بل ته ووائي: راځئ چې بازار ته لاړ شوی هغوي به د مشکو ډيرکو ته راشي چې کله واپس خپلو ببيانو ته لاړ شي، دوی به خپلو ببيانو ته ووائي: مونږه ستاسو نه داسی خوشبوي مومو چې مونږه مخکي نه موندله، هغوي به ورته ووائي: تاسو هم پداسی خوشبوئي باندی واپس شوی ئي چې تاسو زمونږه نه وتلی دغه خوشبوي ستاسو لپاره هم نه وه.

عن عبدالرحمن بن ساعدة قال: كنت أحب الخيل فقلت يا رسول الله هل في الجنة خيل؟ فقال: «إن ادخلك الله الجنة يا عبدالرحمن كان لك فيها فرس من ياقوت له جناحان يطير بك حيث شئت».

قال الهيثمي فى المجمع/۴۱۳/۱۰، رواه الطبراني ورجاله رجال الصحيح غير اسماعيل بن بهرام وهو ثقة، وقال المنذري فى الترغيب/ ۵۵۵۲، رواه الطبراني ورواته ثقات، وقال الألباني حسن لغيره صحيح الترغيب/ ۳۷۵۵.

عبدالرحمن بن ساعدة رضي الله عنه فرمائي: زما د اسونو سره زياته مينه وه ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه چې آيا په جنت کې اسونه شته دی؟

هغه ما ته وويل: أي عبدالرحمن که چيرته الله جل جلاله تا لره جنت ته داخل کړي په هغې کې د ياقوتو اسونه دي چې د هغې لپاره دوه وزرې دي کوم ځائي چې ستا خوښ وي هغې ته به دې الوزوي.

٢: عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَجُلاً سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، هَلْ فِي الجَنَّةِ مِنْ خَيْلٍ؟ قَالَ: إِنِ اللهُ أَدْخَلَكَ الجَنَّةَ، فَلاَ تَشَاءُ أَنْ تُحْمَلَ فِيهَا عَلَى فَرَسٍ مِنْ يَاقُوتَةٍ حَمْرَاءَ يَطِيرُ بِكَ فِي الجَنَّةِ حَيْثُ شِئْتَ إِلاَّ فَعَلَتْ قَالَ: وَسَأَلَهُ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، هَلْ فِي الجَنَّةِ مِنْ إِبِلٍ؟ قَالَ: فَلَمْ يَقُلْ لَهُ مَا قَالَ لِصَاحِبِهِ قَالَ: إِنْ يُدْخِلْكَ اللهُ الجَنَّةَ يَكُنْ لَكَ فِيهَا مَا اشْتَهَتْ نَفْسُكَ وَلَذَّتْ عَيْنُكَ».

رواه الترمذى/٢٥٤٣، وقال الألباني صحيح الترغيب/ ٣٧٥٦ حسن لغيره.

سليمان بن بريده رضي الله عنه د خپل پلار نه روايت کوي چې يو سړي د نبي صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه ورته وي ويل: يا رسول الله په جنت کې اسونه شته دی؟ هغه ورته وويل: که الله دی جنت ته داخل کړي ته به نه غواړي چې ته د سرو ياقوتو په اس باندی سور شي او هغه تا لره هغه ځائي ته والوزوي چې ته غواړي مګر همداسي به وشي.

يو بل سړی تری پوښتنه وکړه چې يا رسول الله آيا په جنت کې اوښان شته؟ هغه ته ئي ددی ملګري په شان جواب ورنه کړه بلکه ورته ئي وويل: که الله جل جلاله تا لره جنت ته داخل کړي ستا لپاره به په جنت کې هغه څه وي چې ستا نفس ئی غواړي او ستا سترګو ته مزه ورکوي.

۳: عَنْ أَبِي أَيُّوبَ، قَالَ: أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْرَابِيٌّ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي أُحِبُّ الخَيْلَ، أَفِي الجَنَّةِ خَيْلٌ؟ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنْ أُدْخِلْتَ الجَنَّةَ أُتِيتَ بِفَرَسٍ مِنْ يَاقُوتَةٍ لَهُ جَنَاحَانِ فَحُمِلْتَ عَلَيْهِ، ثُمَّ طَارَ بِكَ حَيْثُ شِئْتَ.

رواه الترمذي/۲۵۴۴، قال الألباني فی صحيح الترغيب/۳۷۵۷ صحيح لغيره.

أبو أيوب رضي الله عنه فرمائي: چې نبي صلى الله عليه وسلم ته يو باندېچی راغلی او ورته ئي وويل: يا رسول الله آيا په جنت کې اسونه شته دی؟

هغه ورته وويل: که چیرته الله جل جلاله تا لره جنت ته داخل کړي دياقوتو يو اس به تا ته راوستل شي چې د هغی لپاره به دوه وزري وي ته به وربانډی سور شي او تا لره به په جنت کې هغی ځائی ته والوزوي کوم ځائي چې ته ئي غواړي.

د جنت خادمان

جنت کې الله رب العالمين جنتي ته د بادشاهت زندګي ورکوي څرنګه چې الله رب العالمين قرآن عظيم الشان کې فرمائي: (وَإِذَا رَأَيْتَ ثَمَّ رَأَيْتَ نَعِيمًا وَمُلْكًا كَبِيرًا)

الإنسان/۲۰.

او کله چې ته ووينې پدغه مقام کې ته به ووينې نعمتونه او لويه بادشاهی.

او د بادشاهانو لپاره خو خادمان وي قرآن د جنتیانو لپاره خادمان ذکر کړی دي:

۱: الله رب العالمین فرمائي: (وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَهُمْ كَأَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ مَكْنُونٌ) الطور/۲۴.

او د دوي د خدمت لپاره به پدوي باندی چکر لګوی هغه هلکان ګویا که دوي ملغلري دي په پرده کې پټ ساتل شوي.

۲: (وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُخَلَّدُونَ إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَنْثُورًا) الإنسان /۱۹.

او دا خدمت لپاره به چکر لګوي پدوي باندی هلکان چې همیشه به په دغه حالت باندی وي بوډاګان کیږي به نه، کله چې ته ووینې ته به ګمان وکړي پدوي باندی د ملغلرو خورو ورو.

په جنت کې د الله جل جلاله دیدار

د جنت په نعمتونو کې ډیر أعلى او بهترین نعمت د الله رب العالمین دیدار دی چې دا د جنت په ټولو نعمتونو باندی اوچت دی ځکه چې کله جنتیان په جنت کې دا نعمت حاصل کړي او د خپل رب سره ئې ملاقات وشي او د الله دیدار وکړي د جنت ټول نعمتونه به ورته معمولي ښکاره شي او د جنت د نعمتونو نه به غافل شي.

پدی بنیاد د جنت دی نعمت ته د (الزیادة) لقب ورکړی شوي.

او همدا معنی ده چې دا د جنت په ټولو نعمتونو باندی په مقام او منزلت کې زیات دی.

عَنْ صُهَيْبٍ رضي الله عنه قال : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ يقول الله عزوجل: تريدون شيئا أزيدكم؟ فيقولون: أَلَمْ تُبَيِّضْ وُجُوهَنَا أَلمْ تُدْخِلْنَا الْجَنَّةَ وتنجنا عن النار؟ قَالَ : فَيُكْشَفُ الْحِجَابُ فما أعطوا شيئا أحب إليهم من النظر إلى ربهم ثُمَّ تَلاَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : {لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَى وَزِيَادَةٌ}.

رواه مسلم/١٨١، والترمذي/ ٢٥٥٢، والنسائي فى الكبرى/١١٢٣٤.

صهيب رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: كله چې د جنت والا جنت ته داخل شي، الله رب العالمين به ورته ووائي: آيا تاسو څه شي غواړئ چې زه ئې تاسو ته زياتى دركړم او كوم نعمت تاسو ته زيات كړم؟

جنتيان به ورته ووائي: آيا تا زمونږه مخونه سپين كړى نه دي؟ أو تا مونږه جنت ته داخل كړى نه يو او د جهنم نه دى راته نجات راكړى نه دى؟ يعنى ددى نه به بل كوم څيز زياته وى.

د الله جل جلاله او ددوي تر منځ به پرده لرى شي دوى ته به خپل رب ته د كتلو نه بل څيز زيات محبوب نه وي، او بيا نبى عليه السلام دا آيت ولوستلو« للذين أحسنوا الحسنى وزيادة»

هغه كسان چې نيک عملونه ئې كړى دي د هغوى لپاره جنت دى او يو زياتي بل نعمت هم شته .

١: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ النَّاسَ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ هَلْ نَرَى رَبَّنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هَلْ تُضَارُونَ فِي الْقَمَرِ

لَيْلَةَ الْبَدْرِ؟»، قَالُوا: لاَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: «فَهَلْ تُضَارُّونَ فِي الشَّمْسِ، لَيْسَ دُونَهَا سَحَابٌ؟»، قَالُوا: لاَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: «فَإِنَّكُمْ تَرَوْنَهُ كَذَلِكَ».

أخرجه البخاري/ ٦٥٧٣، ومسلم/١٨٢٠.

أبو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې څه خلکو د نبي صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه چې يا رسول الله آيا مونږه به د قيامت په ورځ باندى خپل رب وينو؟

هغه ورته وفرمائل: د څوارلسمي سپوږمئ په ليدلو کی تاسو ته څه ضرر دررسيږي؟ هغوی وويل: نا نبی عليه السلام اوفرمايل: آيا تاسو ته د لمر په ليدلو څه تکليف او ضرر رسيږي چې د هغی نه ديځوا وريځ نه وي؟ هغوي وويل: نا نبی عليه السلام وفرمايل: همدغه رنګه به تاسو هم رب العالمين لره وينئ.

د جنت خبري

١: عن ابى سعيد عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: خلق الله تبارك وتعالى الجنة لبنة من ذهب ولبنة من فضة وملاطها المسك وقال: لها تكلمي فقالت: قد افلح المؤمنون فقالت الملائكة: طوبى لك منزل الملوك.

قال الهيثمي فى مجمع الزوائد/٣٩٧/١٠، رواه البزار موقوفا ومرفوعا ورجال صحيح وأبو سعيد لا يقول إلا بتوقيف، صححه الألباني فى صحيح الترغيب/٣٧١٤، والصحيحة ٢٦٧٢.

أبو سعيد الخدري رضي الله عنه فرمائي: چې کله الله رب العالمين جنت د سرو زرو او سپينو زرو خښتو نه جوړ کړو او د مشکو نه ئې د هغې مصالحه جوړه کړو، جنت ته ئې وويل: خبرې وکړه هغه ووېل: مؤمنان کامياب دي ملائکلو ورته ووېل: ستا لپاره دي خوشحالی او ښکلې حالت وي د بادشاهانو منزله.

۲: عن بن عباس رضي الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:« خلق الله جنة عدن بيده ودلى فيها ثمارها وشق فيها أنهارها ثم نظر إليها فقال: لها تكلمي، فقالت: قد أفلح المؤمنون، قال: وعزتي وجلالي لا يجاورني فيك بخيل.

ذكره الهيثمي فى المجمع/ ۳۹۷/۱۰، وقال: رواه الطبراني فى الأوسط والكبير وأحد اسنادي الطبراني فى الأوسط جيد، وقال المنذري فى الترغيب/۳۸۳۹، رواه الطبراني فى الكبير والأوسط باسنادين أحدهما جيد.

د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلی دي: الله جنت عدن په خپل لاس باندې پيدا کړې او د هغې ميوي ئې رانزدي کړې او په هغې کې ئې نهرونه وشلول، بيا ئې جنت ته وکتل او ورته ئې ووېل: خبرې وکړه هغه ووېل: مؤمنان کامياب دي ، الله ورته ووېل: زما دې په خپل عزت او جلال قسم وي بخيل به په تا کې ونه اوسيږي.

جنت د آفتونو نه پاک کور دی

دیر کرتې په یو کور کې دیر خوراکونه ، سکاکونه، لباسونه او ښکلې ښیاني موجود وي لکن په هغې کې آفتونه وي څکه کله په انسان بیماري راشي ددغې انسان د زندګۍ دغه ټول نعمتونه په عذابونو باندې بدل شي ، او د دغې زندګۍ نه هیڅ خوند او مزه وانه اخلي، ددغې کور په نعمتونو باندې به پوهه نه شي.

کله وریکې په انسان یو غم ، مصیبت او پریشاني راشي هغه ددغې نعمتونو نه خوند او مزه وانه اخلي بلکه دغه نعمتونه ورباندې ترخه شي، د جنت داسې نعمتونه او ښکلا ده چې الله رب العالمین د افتونو او پریشانو نه بچ ساتلې دي.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " يُنَادِي مُنَادٍ: إِنَّ لَكُمْ أَنْ تَصِحُّوا فَلَا تَسْقَمُوا أَبَدًا، وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَحْيَوْا فَلَا تَمُوتُوا أَبَدًا، وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَشِبُّوا فَلَا تَهْرَمُوا أَبَدًا، وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَنْعَمُوا فَلَا تَبْأَسُوا أَبَدًا " فَذَلِكَ قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ: {وَنُودُوا أَنْ تِلْكُمُ الْجَنَّةُ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ} الأعراف/۴۳.

أخرجه مسلم/۲۸۳۷، والترمذي/۳۲۴۶.

أبو سعید الخدري او ابو هریرة رضي الله عنهما فرمائي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلي دي: کله چې جنتیان جنت ته داخل شي یو اواز کونکې به اواز وکړي بیشکه ستاسو لپاره په جنت کې دا دی چې تاسو به صحتمند ئې تاسو به هیچري نه بیماران کیږئ، تاسو

به ژوندي ئې تاسو به هيچري نه مره کيږئ، تاسو به ځوانان ئې تاسو به نه بوډاګان کيږئ.

او دا د الله جل جلاله هغه وينا ده چې فرمائي: اواز به وکړی شي چې دا هغه جنت دی چې تاسو ته په ميراث کې درکړي شويدی په سبب د هغې نيکو عملونو چې تاسو کول.

په جنت کې هميشوالی او د هاذم اللذات نه أمان

يو لوي مصيبت دی چې إنسان په هر ډومره مصيبتونو او مشکلاتو او پريشانيو کې وي خو چې ددغی مصيبت ياداشت وکړو ټول خواږه پرې ترخه شي، او ټول نعمتونه په مصيبتونو بدل شي، ټولی خوشحالياني په پريشانيانو بدل شي هغه آفت او مصيبت مرګ دی.

مرګ هغه آفت دی چې حديث کې ورته هاذم اللذات ويل شويدی په جنت کې بندګان د دی آفت نه په آمان دي.

قرآن کريم کې الله رب العالمين فرمائي: (هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ)

البقرة/ ۸۲/۲۵، ال عمران/۱۰۷، الأعراف/۴۲، يونس / ۲۶، هود/۲۳.

دا جنتيان به په جنت کې هميشه وي.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يُؤْتَى بِالْمَوْتِ كَهَيْئَةِ كَبْشٍ أَمْلَحَ، فَيُنَادِي مُنَادٍ: يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ، فَيَشْرَئِبُّونَ وَيَنْظُرُونَ، فَيَقُولُ: هَلْ تَعْرِفُونَ هَذَا؟ فَيَقُولُونَ: نَعَمْ، هَذَا الْمَوْتُ، وَكُلُّهُمْ قَدْ رَآهُ، ثُمَّ يُنَادِي: يَا أَهْلَ النَّارِ، فَيَشْرَئِبُّونَ وَيَنْظُرُونَ، فَيَقُولُ: وهَلْ تَعْرِفُونَ هَذَا؟ فَيَقُولُونَ: نَعَمْ، هَذَا الْمَوْتُ، وَكُلُّهُمْ

قَدْ رَآهُ، فَيُذْبَحُ ثُمَّ يَقُولُ: يَا أَهْلَ الجَنَّةِ خُلُودٌ فَلاَ مَوْتَ، وَيَا أَهْلَ النَّارِ خُلُودٌ فَلاَ مَوْتَ، ثُمَّ قَرَأَ: {وَأَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ} مريم/ ۳۹.

أخرجه البخاري/۴۷۳۰، ومسلم/۲۸۴۹.

أبو سعيد الخدري رضي الله عنه فرمائي: چی رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: مرګ به د تور سپين ګډ په شکل کې راوستل شي، يو اواز کونکی به اواز وکړي أي د جنت والاو، جنتيان به ورته سرونه اوچت کړي، او ورته به وګوري هغه به وائي: آيا تاسو دا پيژنئ؟ هغوي به ورته ووائي: هو دا مرګ دی او دی ټولو به ليدلی وي.

بيا به اواز کونکی د اور والاو ته اواز وکړي، أي د اور والاو دوی به ورته سرونه اوچت کړي او ورته به ګوري، دا به وائي تاسو دا پيژنئ؟ هغوئ به ووائي : هو دا مرګ دی هغوي ټولو ليدلی به وي.

د جنت او جهنم تر منځ به ذبح کړی شي او بيا به ووائي : أي د جنت والاو هميشکري ده مرګ نشته او أي د اور والاو هميشکري ده مرګ نشته دی .

او بيا نبي صلى الله عليه وسلم دا آيت ولوستلو:

« او دا خلک د هغي افسوس او پريشانئ د ورځی نه ويروه کله چی د کار فيصله وکړي شي او دوي به په غفلت کې وي او دوي به ايمان نه راوړي».

۲: عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا صَارَ أَهْلُ الجَنَّةِ إِلَى الجَنَّةِ، وَأَهْلُ النَّارِ إِلَى النَّارِ، جِيءَ بِالْمَوْتِ حَتَّى يُجْعَلَ بَيْنَ الجَنَّةِ وَالنَّارِ، ثُمَّ يُذْبَحُ، ثُمَّ يُنَادِي مُنَادٍ: يَا أَهْلَ الجَنَّةِ لاَ مَوْتَ، وَيَا أَهْلَ النَّارِ لاَ مَوْتَ، فَيَزْدَادُ أَهْلُ الجَنَّةِ فَرَحًا إِلَى فَرَحِهِمْ، وَيَزْدَادُ أَهْلُ النَّارِ حُزْنًا إِلَى حُزْنِهِمْ "

أخرجه البخاري/ ۶۵۴۴، ومسلم/ ۲۸۵۰.

ابن عمر رضي الله عنهما فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: کله چې جنتيان جنت او جنهميان اور ته داخل شي، مرګ به راوستل شي تر دى چې د جنت او جهنم تر منځ به وګرځولی شي هغه به ذبح کړی شي او بيا به اواز وکړي شي أي د جنت والاو مرګ نشته او أي د اور والاو مرګ نشته دی، جنتيان به د خپلی خوشحالۍ سره نوره خوشحالی هم زياته کړي، او د اور والاو به دخپل غم سره نور غم هم زيات کړي.

اکثر د جنت مستحق:

جنت تـه د ټولـو أمتونـو مسـلمانان داخليـږي، پـه غـير د مسلمانانو نه څوک جنـت تـه نشيـ داخليـدلی، ځکـه قـرآن کـريم کـې الله رب العـالمين فرمـائي: چې د جنـت نعمتونـه پـه کافرانـو باندی حرام دی.

(إِنَّ اللهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى الْكَافِرِينَ) الأعراف/ ۵۰.

او نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمائي:

(وَلاَ يَدْخُلُ الجَنَّةَ إِلاَّ نَفْسٌ مُؤْمِنَةٌ) البخاري/ ٣٠٦٢.

بيشكه جنت ته نه داخليږي مگر مسلمان نفس.

د جنت أكثريت زموږ أمت

لكن أمت د محمد صلى الله عليه وسلم به أكثره د جنت مستحق وي:

عَنْ عَبْدِ الله قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ فِي قُبَّةٍ، فَقَالَ: «أَتَرْضَوْنَ أَنْ تَكُونُوا رُبُعَ أَهْلِ الجَنَّةِ» قُلْنَا: نَعَمْ، قَالَ: «أَتَرْضَوْنَ أَنْ تَكُونُوا ثُلُثَ أَهْلِ الجَنَّةِ» قُلْنَا: نَعَمْ، قَالَ: «أَتَرْضَوْنَ أَنْ تَكُونُوا شَطْرَ أَهْلِ الجَنَّةِ» قُلْنَا: نَعَمْ، قَالَ: «وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ تَكُونُوا نِصْفَ أَهْلِ الجَنَّةِ».

أخرجه البخاري/ ٦٥٢٨.

د عبدالله رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمائي: چی موږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په يوه گول خيمه کې ناست وو هغه وفرمائل: آيا تاسو پدی باندی خوښ ئی چی تاسو د جنت څلورمه حصه شئ؟ ما ورته وويل: هو، هغه بيا وفرمائل: تاسو پدی باندی خوښ ئی چی تاسو د جنت دريمه حصه شئ؟ موږ وويل: هو.

بيا هغه وفرمائيل: آيا تاسو پدی باندی خوښ ئي چی تاسو نمائی حصه د جنت شئ؟ موږ ورته وويل: هو، هغه وفرمائل: زما دی په هغه ذات قسم وي چی زما نفس د هغه په لاس کې دی زه دا اوميد لرم چی تاسو به د جنت نمائي برخه او نمائی حصه ئی.

د جنتيانو صفونه

عَنْ بُرَيْدَةَ رضي الله عنه قال: قال رسول الله صَلَّ اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَهْلُ الْجَنَّةِ عِشْرُونَ وَمِائَةُ صَفٍّ، ثَمَانُونَ مِنْ هَذِهِ الأُمَّةِ، وَأَرْبَعُونَ مِنْ سَائِرِ الأُمَمِ».

أخرجه الترمذي/ ٢٥٤٦، وابن ماجة /٤٢٨٩، والدارمي/٢٨٧٧، وأحمد/٢٢٩٤٠ صححه الألباني في صحيح الجامع/٢٥٢٦.

بريدة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: د جنت والا يو سل او شل(١٢٠) صفونه دي، اتيا(٨٠) صفونه به د دې أمت نه وي او څلويښت(٤٠) به د نورو أمتونو نه وي.

اول به د جنت دروازه څوک ټنګوي؟

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنَا أَكْثَرُ الأَنْبِيَاءِ تَبَعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ يَقْرَعُ بَابَ الْجَنَّةِ».

أخرجه مسلم: ٣٣١/١٩٦.

أنس رضي الله عنه فرمائي: نبي صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي: د قيامت په ورځ به هغه څوک زه يم چې ډير تابعداران ئې دي او زه اولنى هغه كس يم چې د جنت دروازه ټنګوم.

اول جنت ته داخليدونکې أمت:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «نَحْنُ الْآخِرُونَ الْأَوَّلُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَنَحْنُ أَوَّلُ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ، بَيْدَ أَنَّهُمْ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِنَا، وَأُوتِينَاهُ مِنْ بَعْدِهِمْ، فَاخْتَلَفُوا، فَهَدَانَا اللهُ لِمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ مِنَ الْحَقِّ.

أخرجه البخاري/۸۹٦، ومسلم/ ۸۵۵.

أبـو هريـرة رضي الله عنـه فرمـائي: چې رسـول الله صـلى الله عليـه وسـلم فرمـايلي دي: مـونږ پـه زمانـه کـې ددې نـورو أمتونـو نـه روسـته يـو او د قيامـت پـه ورځ بانـدې بـه ددوي نـه مخکي يـو، مـونږ اول هغـه خلـک يـو چې جنـت تـه بـه داخليګـو، دومـره خبره ده چې هغـوي تـه زمـونږ نـه مخکي کتـاب ورکـړې شـويدې او مونږ ته د هغوي نه روسته راکړې شوی دی.

هغوي په حق کې اختلاف وکړو، الله رب العالمين مونږ ته د هغه حق راهنمائی وکړه چې هغوی وریکې اختلاف کړی وو.

جنت ته د داخليدونکو بنکلا:

۱: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَوَّلُ زُمْرَةٍ تَلِجُ الْجَنَّةَ صُورَتُهُمْ عَلَى صُورَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ، لاَ يَبْصُقُونَ فِيهَا، وَلاَ يَمْتَخِطُونَ، وَلاَ يَتَغَوَّطُونَ».

أخرجه البخاري/۳۳۲۷، ومسلم/ ۲۸۳۴.

أبو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: اولنۍ ډله چې جنت ته داخليږي هغه به د څوارلسې

سپوږمۍ په شکل باندې وي، هغوي به توکانې نه غورځوي، د پوزې ګندګې به ئې نه وي او قضاء حاجت به ئې نه وي.

۲: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ أَوَّلَ زُمْرَةٍ يَدْخُلُونَ الجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ القَمَرِ لَيْلَةَ البَدْرِ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ عَلَى أَشَدِّ كَوْكَبٍ دُرِّيٍّ فِي السَّمَاءِ إِضَاءَةً».

أخرجه البخاري/۳۳۲۷، ومسلم/ ۲۸۳۴.

أبو هريرة رضي الله عنه فرمائي :چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: اولنۍ ډله چې جنت ته داخليږي هغوي به په ځمک کې د څوارلسمي سپوږمۍ په شان وي ، او ورپسې ډله چې جنت ته داخليږي هغه به داسې ځمک لري لکه په اسمان کې ځمکداره ستوری.

د يو جنتي قد به شپيته ګزه وي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَوَّلُ زُمْرَةٍ تَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي عَلَى صُورَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ..... أَخْلَاقُهُمْ عَلَى خُلُقِ رَجُلٍ وَاحِدٍ، عَلَى طُولِ أَبِيهِمْ آدَمَ، سِتُّونَ ذِرَاعًا»

أخرجه مسلم/ ۲۸۳۴.

أبو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: اولنۍ ډله چې زما د أمت نه جنت ته داخليږي هغه به د څوارلسمي سپوږمۍ په شکل باندې وي.

د هغوي اخلاق به د يو سړي په شان وي چې د ټولو به يو طبيعت وي يو شان به نرم وي، او د هغوي قد به د خپل پلار د أدم عليه السلام په شان شپيته ګزه وي.

د جنت پټ نعمتونه:

دا مخکې چې ذکر شول دا هغه نعمتونه دي چې قرآن کريم او سنت بيان کړی دي او بعضې نعمتونه دي چې قرآن کريم او سنت د هغې بيان نه دی کړې بلکه دا خبره ئې ذکر کړيده چې هغه الله رب العالمين د جنتيانو لپاره پټ ساتلی دي، او جنتيانو سترګي په هغې باندی یخيږي او د دې حکمت دا دی چې دا د داسي نعمتونه دي چې إنسان د سوچ فکر نه ډير زيات اوچت دي.

الله رب العالمين فرمائي: (فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ) السجدة/ ۱۷.

هيڅ يو نفس په هغه څه باندی نه پوهيږي چې د دوي لپاره پټ ساتل شويدي د سترګو د یخوالی نه دا بدله ده په سبب د هغه څه چې دوي ئې کوي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ اللَّهُ «أَعْدَدْتُ لِعِبَادِي الصَّالِحِينَ مَا لاَ عَيْنٌ رَأَتْ، وَلاَ أُذُنٌ سَمِعَتْ، وَلاَ خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ، فَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ فَلاَ تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ»

أخرجه البخاري/ ۳۲۴۴، ومسلم/ ۲۸۲۴.


أبو هريرة رضي الله عنه فرمائي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي: چې الله رب العالمين فرمائي: ما د خپلو نيكانو بندګانو لپاره هغه څه تيار کړي دي چې هغه سترګو ليدلی نه دي، او نه غوږونو اوريدلي دي، او نه د چا په زړه کې د هغې سوچ او فکر تير شوي دی.

اللَّهُمَّ إنا نسألك الجنة وما قرب إليها من قول وعمل ونعوذبك من النار وما قرب إليها من قول وعمل.


اللَّهُمَّ صل على محمد وعلى آل محمد كما صليت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم إنك حميد مجيد.


فهرست

Scanned with CamScanner











قاري ديني كتب خانه

لنډے سړک چارسده روډ پشاور

0332-5916117

